بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پیژندنه

**د کتاب نوم:** **مالیه**

**څانګه:** **محاسبه ، بانکداري او د تجارت اقتصاد**

**تدوین کونکی:** **مسلک فهم کریم اللّه مطلوب**

**ژباړن:** **قاری محمّدحلیم**

**د څار کمېټه:**

- محمّد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابي د تعلیمي نصاب رییس
- محمّد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- فرشته
- عبدالجمیل ممتاز

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمّد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** محمّد حسن رمضانی

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

کڼ ISBN: 9789936300996

Ketabton.com

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همدااز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یوازې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یوازې او یوازې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| څپرکی | لړلیک | پاڼې |
| --- | --- | --- |
| لومړی | له‌بېلابېلوسرچینو څخه د مالیې تعریفونه | ۱ |
| دوهم | مالیه او دهغې ډولونه | ۹ |
| دریم | د مالیو تصنیف | ۱۵ |
| څلورم | د صنایعو وده | ۲۳ |
| پنځم | مالیاتو ته په پام سره د صنایعو تصنیف | ۲۹ |
| شپږم | په افغانستان کې د مالیاتو تاریخچې | ۳۵ |
| عمومي معلومات | | ۳۹ |
| سرچیني او اخځلیکونه | | ۴۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

دیوولسمې پیړۍ له اواخرو څخه را وروسته د اقتصادي تعادل د ایجادولو په موخه دولتونه په اقتصادي بازارونوکې د فعالیتونو صحنې ته ور دانګي او دګټو سیاسي، اقتصادي او مالي وسایلو په مرسته چې یې په اختیارکې وو، هرځل به یې دخالت کاوه. ددې په ځای چې اقتصادي بازارونه پخپل حال پرېږدي هغوی یې ترخپل کنترول لاندې راوستل، دهغوی اوضاع یې داوږدمهاله اولنډمهاله اقتصادي سیاستونو د طرحې او اجرا له لارې پخپل زړه تنظیم کړل٠ په همدې موخه هغوی په مستقله توګه پخپله ستړې پانګونې اغلباً اضافي پانګونې یې تحمل کړلې اوپه هغې وسیلې د بازار او یا اقتصاد د رکود او تساویانه مواردو کې په کلي توګه سره د فعالیتونو رونق لره موجب کېدل ٠او په کوم ځای کې چې به یې د تورم نښې نښانې احساسولې د بازارونو او دمالي اوپولي سیاستونوله لارې اویا په بل ډول به یې دخالت کاوه اوله حد څخه دزیات رونق او داقتصاد له عدم تعادل څخه به مانع ګرځېدل په همدې ترتیب سربېره دغیرانتفاعي خدمتونوپه تأمین دولتونه بېلا بېل نور ډېر اقتصادي نقشونه په نني اقتصاد کې ترسره کوي. سربېره په هغو نقشونو چې مو وویل، نني دولتونه د ټولنیز عدالت تعین ته هم په ډېر اهمیت سره قایل دي او د دې کار لپاره اغلباً ځینې میکانیزمونه لکه د قیمتونو د ټاکنې او د توزیع میکانیزم او نور ټول درآمدات٠ او په اړوند بازارکې دقیمـتونوکنترول یوڅه تغیرات منځ ته راوړي او د لزوم په صورت کې پخپله داقـتصادي او اجتماعي بودجې له لارې د ډېر زیات لګښت متحمل کیـږي چې د پورتنیو ویناوو پربنسټ د درآمداتو او لګښتونو درلودونکي دولتونه دعمومي اوعمراني بودیجو په چارچوب کې دي. دغه مطالب معمولاً په عمومي مالیه اومالي اقتصاد کې په تفصیل سره ترڅېړنې لاندې نیول کیږي، چې په هغه سره د سریزې ترعنوان لاندې دموضوع د پیل لپاره موخپل بحث پیل کړ. له بل اړخه څرنګه چې مالیه د دولت یو بنسټیز رکن ګڼل کیږي، نو ځکه خو اړین ګڼل کیږي، چې داقتصادي فقر انګېزې او علل چې زمونږ خلګ ورسره لاس اوګریوان دي وڅېړل شي، ترڅو د مالیې اغېزې په ملي اقتصاد باندي دحکومت د لګښتونو عاید وڅېړل شي٠ نننۍ مالیې نه یواځې داچې د دولتي ګټو د زیاتېدنې وسیله ده، بلکه ډېره پیاوړې مالیه د ټولنیز عدالت تأمین دی اوپه خصوصي سکتور باندې ځانګړې اغېزې لري او نننی مالیات حکومت دغني او فقیرې طبقې ترمنځ د تصنیف دخلاصې په حیث اوهمدا راز د اقتصادي کړنو هڅونه یې بولي٠

بناءً دمنابعو په درکولوسره مالیات اود د ولت درآمدات له مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي٠له دې څخه وروستــه دولتونه باید د دولت دعاید اتواومالیاتوپه ترلاسه کولوکې توجه وکړیس اودمالیې مشمولین باید وهڅوي ترڅود خپل وطن په دې پورکې دټولنې دملّي اقتصا د په لوړولوکې مکلفیت ترسره کړي. ضمناً د درسي کتاب محتوی مرتب اومالیاتي روحیه چې دټولنې داقتصادي پیـوندونو بنسټ ده په نوې نسل کې ځای شوې چې د دولت دعایداتوله مدارکو څخه یوه اهمه برخه دمالیې حصول دی په مالیې ایـښودونکوباندي چې دمالیې دورکړې واجد شرایط اشخاص دي٠په لومړي قدم کې د دې کتاب موخه دیو لړمستندو معلوماتوراټولونه ده چې د پرمختللـیوهیوادونوعلمي راټولونې په بېلا بېلوتجاربو سره راټولې شوې دي ځکه چې دمالیې دورکړې اصول پرعایداتوباندې دمالیاتوله دندوڅخه یومهمه دنده ده چې په ټولنه کې دلایحې اومقررې له مخې ورکړل کیږي اوخلګ باید درک کړي چې مالیې ورکړه دهیواد یومهم عاید تشکیلوي٠اوپه موند نه یې دولت کولای شي خپله بودجه تشکیل کړي ،اودهیواد په بیا جوړونه اوبیا نوې ونه کې هم غږې وي ځکه خودمالیاتي روحبې په موندنې سره ملت د خپلې حصې مـسولیت اداکړی،او هرڅومره زرپه راټلونکې کې دملت اودولت ترمنځ اړیکې ټینګې شي ،اودټولنیزوتفاوتونوله لحاظه دټولنې بې ثباتې کمښت وومومي.

**په احترام**

**کریم الله مطلوب**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د کتاب ټولیزه موخه**

د مالیې او مالیاتي سیستم په اړوند د اقتصاد پوهانو د نظریاتو او تعریفاتو درک او په دې اړه د نورو لازمو موضوعاتو په اړه د معلوماتو ترلاسه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## له‌بېلابېلوسرچینو څخه د مالیې تعریفونه

**ټولېزه موخه:**
د مالیې په اړه او په مالیاتي سیستم کې د اقتصاد پوهانو د ټولو تعریفونو او نظرونو درک.

**د زده کړې موخې:** محصلین د دې څپرکي په پای کې لاندې معلومات ترلاسه کوي.

- مالیه د اقتصادي او ټولنیز علم یوه تاریخي او لرغونې برخه.
- د مالیې د ورکړې مختلفې بڼې.
- د مالیې علم په ننني بشري ټولنه کې.
- د مالیې را ټولوني بېلابېلې بڼې.

**د اقتصاد پوهانو له نظره دمالیې تعریفونه:** دیوې اجباري ورکړې له یوه ډول څخه عبارت ده ، چې د یوه ټاکلي خدمت په موخه وي. یا په بل عبارت له یوې اندازې پیسو څخه عبارت دي، چې خلک او دولت یې د عامه خدمتونو د ترسره کولو او د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره ورکوي.

د مالیاتو ورکړه عبارت له هغې برخې څخه ده، چې دولت یې د خپلو ځانګړو خدمتونو د ترسره کولو په مقابل کې د ریښتینو ورکړو له شتمنۍ او لاسته راوړنو څخه او یا د شرکتونو له خصوصي افرادو او اشخاصو څخه په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول غالباً د بازارونو له لارې د غیرمستقیمو مالیاتو په بڼه ترلاسه کوي. دغه ټکی باید په پام کې ونیسو چې په پرمختللو هیوادونو کې د مالیې ورکړه پولي اړخ لري. خو باید وویل شي چې یوازې په وروستیو لسیزو کې د مالیې اخیستنه دپیسو له اخیستنې سره عمومیت موندلی دی او له هغو څخه په مخکنیو کلونو کې دمالیې ورکړه په غیر پولي بڼه یې دود درلود؛ مثلاً: د فرانسې بزګرانو تر 1936 کال پورې به خپلې مالیې د تعمیراتو د جوړولو او ترمیمولو په ډول اداء کولې. اما نن ورځ څرنګه چې تخنیکي وسایل او مدرن اختراعات منځته راغلي او ډیری یې د انساني او بشري ځواک لخوا کارول کیږي نو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې امله د مالیې رانیونه یوه پولې بڼه ځانته غوره کوي.

مالیه یو لرغونی او اوږد تاریخ لري؛ مثلاً: مصریانو به د جګړې، تعمیراتو او د عامه اړتیاوو د رفع کولو او د دوی د لګښتونو مالیه به یې زیاتره په جنسي او خدماتي ډول ادا کوله. له میلاد څخه شپږ پیړۍ مخکې ځینې نښې نښانې شته چې مالیه په مختلفو ډولونو سره شیې. په لرغوني یونان کې هم یو ډول مالیه موجوده لګښت ؤ، چې په مصر کې یې له مروجه مالیې سره ډیر توپیر درلود، ځکه چې په یونان کې د دریاب لګښت ډیر کم ؤ، چې زیاتره یې د ملا کانو یا قوانینو له لګښتونو څخه تادیه کیده او لرغونو رومیانو بیا له هغو هیوادونو څخه مالیه اخیسته، چې د دوی تر لاس لاندې وو.

په ایران کې د ساسانیانو په دوره کې یو څه مالیاتو شتون درلود. لنډه دا چې د مالیې د ادا کولو ډول له پیل څخه په دې ډول و.

دبشر له ټولنیزو جوړښتونو څخه موجود ؤ. اما د وخت په تیریدو سره د دولت د دندو په ټاکلو او د علم او تخنیک په پرمختګ سره د مالیې د ورکړې او اندازې ځانته بیلابیل ډولونه غوره کړي وو.

**د دولت عایدات:**

دولت د دندو په پرمخ بیولو او د عامه خدمتونو د ترسره کولو په خاطر له خپلو عایداتي سرچینو څخه پیسې لاسته را وړي، چې مونږ کولای شو هغه تر دوو بېلا بېلو بحثونو لاندې مطالعه کړو:

۱. **د دولت عادي عایداتي سرچینې:** عبارت له هغو سرچینو څخه دي، چې هر کال له هغو څخه حکومت سر شاره او بې شمیره عایدات تر لاسه کوي، چې نوموړې سرچینې عبارت دي له املاکو، دولتي ځنګلونو، مهمو مواصلاتي لیکو، صنعتي مؤسسو، مالیه، محصول او داسې نور، چې له همدې جملې څخه تقریباً % 65 تر 70% پورې او په شتمنو هیوادونو کې تقریباً د دې عایداتو 90% مالیه جوړوي.

۲. **د دولت د فوق العاده عایداتو سرچینې:** دغه عایداتي سرچینې عبارت له هغو سرچینو څخه دي، چې د عادي سرچینو د پوره نشتوالي په صورت کې ورڅخه کار اخستیل کیږي؛ مثلاً: هرهغه وخت چې دولت ونه غواړي، یوه انکشافي پروژه دخلکو دکار برابرولو په موخه په لاس ونیسي او یا معادن استخراج کړي او یا د زلزلې په مهال وسوځي او یا هم هغه امراض چې د دولت عادي عایدات د هغو لګښت پوره نکړای شي، نو له همدغو سرچینو څخه استفاده کیږي ، او نوموړې سرچینې د بانک نوټونو له استقرار او خپریدلو څخه عبارت دي. لکه څرنګه چې مخکې هم په دې هکله یوڅه ویل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پولي امکانات د مالیې له لارې تر سره کیږي چې مونږ یې اوس په تشریح پیل کوو:** مالیه عبارت له یوې اندازې پیسو څخه ده، چې دولت یې د خلکو له مالي قدرت او اقتصادي توان سره سم ترلاسه کوي او په بدل کې یې خلک له دولت څخه دیوه ټاکلي خدمت د ترسره کولو تقاضا لري.

د مالیې په هکله او دهغې د ادا کولو په هکله مختلفو پوهانو بیلابیل نظرونه درلودل چې په بیلا بیلو ډولونو یې وړاندې کړي دي.

دساري په توګه ځینو له هغو څخه ویلي دي، چې دولت ته د مالیې ورکړه د بیمې مؤسسې نه د ګډون د حق ورکولو په شان ده، لکه څرنګه چې د بیمې یوه مؤسسه د خلکو صحت، مال، شتمنۍ د یوې ټاکلې حق الأُجرې په مقابل کې پر غاړه اخلي، نو دولت هم د عامه خدمتونو د ترسره کولو په وړاندې له خلکو څخه مالیه اخلي او بیرته هغه پیسې د خلکو د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي چارو د ښه والي په منظور په لګښت رسوي.

**د مالیې اخیستنې بنسټونه**

د دې لپاره چې د مالیې اخیستنې له بنسټونو څخه باخبر شو، نو لاندې مسایل په نظر کې نیسو:

۱. **ټولنیز عدالت د مالیې را نیونې په چاروکې:**
د یوه مضمون د مساوات او عدالت په نظر کې نیولو سره له اقتصادي لحاظه په څو ګروپونو تقسیمیږي او د هغوی د مالي توان او له عایداتي سرچینو سره سم مالیه اخستل کیږي. د مالیې اخستنې په چارو کې ټولنیز عدالت هغه مهال رامنځته کیدای شي، چې له مالداره یا سرمایه دارو خلکو چې هغوی د دولت له ټولنیزو خدمتونو څخه ډیره ګټه اخلی ډیره مالیه واخستل شي، البته د کمزوره او ضعیفو خلکو په پرتله.

۲. **داقتصادي پوهانو نظریات:** ځینې اقتصاد پوهان په دې باور دي، چې بهترینه مالیه هغه مالیه ده، چې په اسانۍ سره را ټوله او بیا په معقول ځای کې ولګول شي.

۳. د اقتصاد ځینې پوهان بیا دا نظر لري، چې دمالیې راټولونې په مهال باید د خلکو قناعت ترلاسه شي او بیا نوموړې مالیه د خلکو د ژوندانه دسطحې لوړولو په موخه ولګول شي.

ځینې بیا په دې باور دي هغه خلک چې له ټولنیزو خدمتونو څخه ډیره ګټه اخلي نو مالیه هم باید ډیره ورکړي؛ مثلاً: ډریوران یا چلونکي چې له پاخه یا قیر سړک څخه ډیره ګټه اخلي، که په غور او دقت سره پام وکړو، دغه څواب قناعت وړ څواب ندی په ځینو هیوادونو کې مالیه د دولت د خدمت په پرتله له اشخاصو څخه اخستل کیږي؛ مثلاً: د اطفائیې او امنیت له خدمتونو څخه چې دولت یې منځ ته راوړي.

دمنازلو او مغازو له څښتنانو څخه ډیره مالیه اخستل کیږي

**د عمومي مالیې موضوع**

په نوي اقتصاد کې دولت یو ستر او له اهمیته ډک رول په غاړه لري. افراد اوټولنه دخپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازادۍ دساتنې او د امنیت د تأمین او ټولنیز عدالت په خاطر له عمومي خدمتونو ، د لازمه قوانینو جوړول او همدا راز مطلوب شرایط د اقتصادي فعالیت لپاره ، تأمین او ټولنیزه هوساینه او همدارنګه نورې ډیرې چارې په دولت باندې تړلې دي. انساني اړتیاوې او غوښتنې نا محدوده دي، اما موجوده سرچینې محدودې او نه رسیدونکې دي.

دولت باید کوښښ وکړي ترڅو په رسمي او ښې استفادې سره له موجودو سرچینو څخه ټولنیزې غوښتنې په معقولو او ممکنو اهدافو کې پرځای کړي. د دولتي سازمانونو کرنې، د عمومي خدمت ګذارانو کفایت او کاردانې د ټولنیزو او فردي اړتیاوو د تأمین لپاره ښایې د ټولنیزو سرچینو دسم تشخیص موجب وګرځي او برعکس د دولت د دستګاه بې کفایتي ښایي د منابعو په لمنځه تلو او د افرادو په نه رسیدو منجر شي.

د دغو ستونزمنو دندو ترسره کول چې د دولت په ذمه باندې دي، د درنو مخارجو د تحمل مستلزم دي، چې د هغوی د تأمین لپاره دولت باید ناچاره کافي عاید او منابع په اختیارکې ولري. په عاید پورې د اړوندو مسایلو بررسي، د دولت لګښتونه او له هر یوه څخه ترلاسه شوې پایلې د عمومي مالیې موضوع ده.

**د دولت عایدات**

د دولت څلور کره سرچینې در آمد په واک کې لري، چې په لاندې ډول دي.

۱. مالیې
۲. پورونه
۳. پولي وسایل
۴. د غیر مالیاتي عایدو دخدمتونو بې ځایوالی.

**مالیې**

یعنې هغه سرچینې چې دولت یې د حقیقي او حقوقي اشخاصو له عایدو او شتمنیو څخه د مالي تأمین لپاره دخپلو وظایفو د ترسره کولو په بدل کې په ځان منې.

که هر څو د مالیاتو موندنه د مؤسسو د تاسیس او د دولتي خدمتونو د راټولو په خاطر وي. اما د اصولي سرچینو او د هغې ګټې ترمنځ، چې رسوونکي یې د دولت له خدمتونو څخه کوي، لزومًا برابري شتون نلري، بلکې څرنګه چې یې مخکې هم یادونه وشوه، مالیې د دولتونو په وسیله ترلاسه کیږي او د هغې ترلاسه کول اوږده سابقه لري. د هغوی ډولونه او ډلبندي د متمادي پیړیو په اوږدوکې ډیر بدلونونه پیداکړي دي. امّا نویو مفاهیمو او مالیاتي ډلبندۍ ته په پرمختللو هیوادونو کې په پام سره هغوی په پینځو برخو تقسمیږي:

**هغه مالیې چې په عاید پورې اړه پیدا کوي:**

**الف ــ** دحقیقي اشخاصو په عاید باندې مالیات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ب ــ** د حقوقي اشخاصو او شرکتونو په عاید باندې ماليات.

**ج ــ** د بيمې حق.

**هغه ماليې چې په مصرفي لګښتونو پورې اړونديږي**

**الف ــ** پر لګښت باندې ماليه پر عايد باندې د ماليې په شان ترلاسه کيږي. خو د لګښت په نسبت اشخاص دي.

**ب ــ** پر پلو باندې د مالياتو ګمرکي حقوق او هغه سوچه ماليې چې د کالو پر واردونکو او پلورونکو باندې تحمليږي. مګر د دغې فرضيې پر بنسټ چې لګونکی( مصرفونکی) يې د پيل په پړاو کې وزغمي پر لګونکی (مصرفونکي) د ماليې په عنوان تلقي کيږي.

**هغه ماليې چې په مالکيت يا د شتمنۍ په ليږد پورې اړه لري:**

**الف ــ** د افرادو د سوچه شتمنۍ پر ارزښت باندې ماليې

**ب ــ** د افرادو د نا خالصه شتمنۍ په ارزښت باندې ماليې

**ج ــ** پر اراضي ارزښت باندې ماليې

**د ــ** د پانګې پر ارزښت باندې ماليې

**هـ ــ** د ارث له لارې د شتمنۍ پر ارزښت باندې ماليې

هغه ماليې چې په سوداګريزو کړونو پورې اړه لري

**هغه ماليې چې پر صادراتو وضع کيږي:** په تير وخت کې ماليې په دوو کره مستقيمو اوغير مستقيمو برخو باندې تقسيمدې. په دې طبقه بندۍ کې له مستقيمو ماليو څخه منظور هغه ماليې دي چې اداکوونکي وګړي به هغه زغملې او اصولاً به يې نه شوی کولای تر ځو هغه بل چاته وليږدوي.

دشتمنۍ پر عايد باندې ماليه يوازې او يوازې دمستقيمو ماليو جز ګڼل کيده. په غير مستقيمو ماليو کې طرز داسې و، چې دماليو اداکوونکي به هغو نورو کسانو ته ليږدول او خپله دوی به يوازې دماليو د ورکړې وسيله وه. دګمرکي حقوقو دپلور ماليې او په همدې ډول نور داسې له همدې ډول ځانګو څخه ؤ چې په عملي توګه دغه ډول طبقه بندي ښايې دقيقه او ګټوره ونه اوسي. ځکه چې پر مالياتو باندې نهايي توضيع تل روښانه نه وي؛ مثلاً: د ماليو يوه برخه د شرکتونو په عايد باندې ممکن د شرکت له څښتنانو څخه نورو ته انتقال شي او يا پر حقوقو او د لاس په مزدورۍ باندې ماليې چې د مستقيمو ماليو يوه برخه ده، چې د کار فرمايانو يا حسابداريو په وسيله دولت ته ورکول کيږي، لکه څرنګه چې تاديه کوونکي نهايي کارمندان او کار ګران دي.

**دټولنې مالياتي روحيه**

څرنګه چې يادونه وشوه مالياتي عايد د دولت د عايد د منابعو له هغو مهمو عايداتو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼل کیږي، چې افراد او مؤسسې يې د دولت هغو درنو مسؤلیتونو ته په پام سره د خپلې شتمنۍ او عاید یوه برخه د دولت دمالي وظایفو د تامین لپاره ورکوي. دیوې ټولنې د افرادو دهمکارۍ میزان د دولت له دستګاه سره او دهغوی تمایل مالیاتو په داوطلبانه ورکړې د سره له یوه لوري دټولنیزې ودې درجه او له بل لوري د دولت دستګاه په نسبت د هغوی دخوش بینۍ او د باور په میزان پورې تړاو لري، دیوې ټولنې په غړو کې د باور او اعتماد ایجاد او مساعده روحیه د ځو شرایطو د شتون مستلزم ده، چې د هغوی د ټولو په رأس کې د موندونکو مالیو برابروالی او د مالي ادارو د دستګاوو د مکلفیتونو انجام او د دولتي لګښتونو سموالی دی.

خلک باید دا باور پیدا کړي چې د مالیو وضع او حصول یو داسې ترتیب دی، چې هر څوک خپله عادلانه برخه اداکوي  او که چیرې دغه احساس په افرادو کې عمومیت پیدا کړي چې ځینې د هغوی د ډیرې شتمنۍ او عاید سره سره نسبتاً لږې مالیې اداکړي  او یا پرته له کوم موجب څخه له لوړو معافیتونو څخه برخورداره شي. د ټولنې د مالیې ورکړې روحیه تضعیفیږي. د افرادو دمالیې ورکړې ځانګړنې، که په شتمنو او یا فقیرو هیوادونو کې وي، دهغوی ځانګړنې په دې زمینه کې متفاوتې دې.

دساري په توګه ممکن، چې ایراني، ایټالیوي یا فرانسوي شریف تجاران او یا صنعت کاران د خپلې مالیاتي اظهار نامې په تنظیم کې د امانت اوصداقت رعایت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دلومړي څپرکي لنډيز**

د ماليې مضمون څرنګه، چې يوه مهمه اقتصادي او حياتي پديده ده، نو په همدې بنا په دې څپرکي کې عمدتاً د اقتصاد پوهانو عکسل العملونه او نظرونه انعکاس شوي، ترڅو ګران محصلين د ماليې له پوهې سره په بشپړه توګه اشنايي او په همدې اړه د علماوو له نظرونو سره هم اشنايې پيدا کړي. نوځکه خو د اقتصاد د علم تاريخي او علمي بنسټ باالخصوص مالي څانګه په تيرو دورو کې د راټولونې په طرز او ډول سره او دماليې ډولونه په هر اړخيز ډول تربحث لاندې نيسي.

ماليه دبشري ټولنې له پيله تر ننه پورې په بېلابېلو ډولونو سره شتون لري او د دولت له عايداتو څخه يو مهم عايد جوړوي. نو ځکه خو په دې فصل کې پاملرنه شوې، ترڅو په تيرو دورو او ننۍ بشري ټولنه کې دمضمون ماهيت او دماليې د علم له مؤثريت څخه درک ترلاسه کړي. همدا راز په اوسني بحث کې نور مهم موضوعات لکه عايدات او د هغو ماليو ډولونه چې په سوداګريزو فعاليتونو پورې ارتباط نيسي. دماليې رانيونې بنسټونه دماليې په سيستم کې تولنيز عدالت. دماليې عمومي موضوعات او مالي روحيه چې په مالياتي سيستم کې يو مهمترين فکټ ګڼل کيږي.

په دې څپرکي کې د نورو موضوعاتو په څنګ کې ځای په ځای شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لومړي څپرکي پوښتنې:

۱. مالیه څرنګه علم دی؟
۲. د مالیې په اړه د اقتصاد پوهانو نظریات مختصراً تعریف کړئ؟
۳. د دولت د عایداتو په اړه څه پوهیږئ تشریح یې کړئ؟
۴. د مالیې پوهه له څه شي څخه بحث کوي؟
۵. د مالیې راټولونې پرمخ تللی ډول تعریف کړئ؟
۶. تاسو چې کوم فصل زده کړ له هغه څخه موخه کوم موضوعات دي، نومونه یې واخلئ؟
۷. په 1936 کلونو کې څه ډول مالیه اخیستل کیده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## مالیه او دهغې ډولونه

**ټولیزه موخه**

پرعایداتو باندې مالیې او د مالیو ځانګړي ډولونه د دې فصل موضوع ده.

**د زده کړې موخې:** محصلان ددې څپرکي په پای کې لاندې موضوع ګانې توضیح کولای شي.

- د اقتصادي پوهانو نظریات د مالیاتو په اړه.
- د دولت عایدات او عایداتي سرچینې.
- په تجارتي فعالیتونو کې د مالیې رول.
- د مالیې رول د ټولنې په سیاست او اقتصادکې.

### مستقیم مالیات

مستقیمې مالیې هغو مالیاتوته ویل کیږي، چې پرته له واسطې او له هغه فهرست سره سم چې د جمع جز جدول نومیږي، موندل کیږي.

په یاد شوي فهرست کې له اشخاصو څخه د هر یوه د نامه په مقابل کې هغه مبلغ، چې د یوه شخص په واسطه مستقیماً باید دولت ته ورکړل شوي وای، معین او مشخص شوي او له شتمنو اشخاصو څخه اخستل شوي، نو ځکه خو شتمن اشخاص له تحصیل دارانو څخه د مالیې سره مستقیماً مخامخ شوي او خپله مالیه ادا کوي او په مقابل کې داسې سند چې د ده د مالیې په ورکولو دلالت کوي، ترلاسه کوي. سر بیره پردې مستقیمې مالیې همیشه له هغو عوایدو څخه چې په منظمه توګه سره په معینو زمانونو کې د افرادو عاید ګرځي وضع کیږي او دهغوی وړاندوینه اسانه او امکان نه منونکې ده.

### غیر مستقیمې مالیې

غیر مستقیمې مالیې له هغه ډول مالیې څخه عبارت دي، چې د اجناسو په قیمت او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي کاليو وراضافه شوې وي او مستهلکين يې د اخستنې پر مهال دولت ته ورکوي. د مستقيمو ماليو په اخيستنه کې د دولت موخه دا ده، چې د خلکو له اوږو څخه د غير مستقيمو ماليو بار کم کړي. په تيرو دورو کې غير مستقيمې ماليې له مستقيمو ماليو څخه مهمې وې، ځکه چې غيرمستقيمې ماليې د تجارتي مالونو له پلور څخه اخستل کيږي. د غير مستقيمو ماليو ورکول په غير محسوس ډول سره ترسره کيږي، ياني د جنس پلورنې پر مهال ماليې پرهغه اضافه کيږي او له اخستونکي څخه اخستل کيږي. غير مستقيمې ماليې په هيڅ وجه له دفتر سره دجمع برخه نه ده په هغو شيانو پورې تعلق نيسي، چې د هغه حقيقي څښتن د ماليو د حصول پر مهال مشخص او معلوم نه وي.

**دمحصولاتو ماليې**

ماليې د عايداتو محصول دی او هغه اشخاص چې دغه عايدات ورکوي، ماليه ورکوونکي نومول کيږي. دغه عوايد د دولت او يا هم د ښاروالی مربوط دي. وجه د ياد شوې مالياتي په خاصيت کې تغير نه پيدا کوي.

په دواړو صورتونو کې يې خپل اساسيتوب او قانوني والی د هيواد په قوانينو کې حايز وي.

په بين المللي رسنيو کې دمالياتو او محصولاتو په اړه ډير تعريفونه ياد شوي دي.

اما د کتاب ليکونکي په عقيده، د هغو اسانه او ساده لارې په لاندې ډول دي.

ماليه يو ډول ورکړه او عايدات دي چې يوازې د يوه هيواد د منابعو اساسي عوايد دي. دعمومي لګښتونو د تر سره کولو لپاره حکومت هغو ته اړتيا لري، دغه حصه د آبي او للمي ځمکو په ماليو پورې اړه لري او همدا راز په مال، څارويو او نورو اضافي اسبابو پورې اړونديږي. محصول يو ډول عايدات دي، چې د هيواد له بنسټيزو منابعو څخه ګڼل کيږي او هيواد د عمومي لګښتونو د اکمال لپاره ضرورت لري.

اما په عين وخت د يوه ډول خدمت په توګه محسوسيږي، چې هيواد يې د محصول ورکوونکي لپاره اجرا کوي. په دې برخه کې د پُستې، تيلګراف محصول، د معابرو محصول او دځينو اسنادو محصول لکه قباله، حجت وکالت او داسې نور چې وثيقه نوميږي. د ورکړل شوي محصول او ماليې په اړه بيلګې د پورتنيو دوو جملو لپاره بس دي.

که چيرې د مال او څارويو عايدات په مثال کې را واخلو ډير زر کيداي شي، درک شي. چې دغه عايد يوازې د هيواد د اړتياوو د رفع کولو لپاره او د مجموعي لازمه لګښتونو د تکميل په موخه چې په پورته کې د عمومي لګښتونو په نامه نومول شوي دي او په نقدي ډول اخستل کيږي، دغه په ماليې پورې اړونديږي. که چيرې نور عايدات په مثال کې راوړو، لکه د معابرو عايدات، وبه وينو چې د پيسو ورکړه په داسې مهال کيږي، چې هيواد يې په مقابل کې زموږ لپاره د هغه سړک ساتنه او حفاظت وکړي، چې موږ ورباندې تيريږو او راتيريږو. همدا راز د پُستې په محصول کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یانې د پُستې محصول هغه وخت مونږ ورکوو چې هیواد زمونږ د لیکونو د لیږلو هغه خپل مقصود او مرجع ته خدمت ترسره کوي. همدغه ځای دی چې دغه برخه په محصول پورې اړونديږي.

لنډه دا کوم تشریحات چې پورته ذکر شول په داسې ډول واضح کيږي. یانې مالیه په کلي ډول سره یو ډول ملکفیت دی، که چیرې مکتوب ونه رسيږي، نو د پستې محصول به نه ورکوي او که څوک له جادې څخه تیر نه شي، نو هیڅ څوک به له تاسو څخه د تېریدو محصول نه اخلي. امّا د مالیې او محصول تر منځ اصلي توپیر تر هغې قاعدې پورې منحصر دی، چې پورته یې تشریح وشوه. یانې د حق الزحمې محصول هغه ځانګړنه ده چې حکومت یې په خپله موقع له ستاسو څخه غواړي. په هغه صورت کې چې باالمقابل مالیه د هیڅ کوم یوه ځانګړي خدمت درلودونکې نه وي، د عمومي لګښتونو د اړتیاوو د تکمیل لپاره تأسیس شوي وي.

نور هغه امتیازات، چې د عوایدو په باب شتون لري په لاندې ډول دي.

۱. غیر مستقیم عایدات
۲. مستقیم عایدات

**۱. غیر مستقیم عایدات**

هغه عایدات دي، چې رأساً په مالیه ورکوونکو تعمیل شوي او له خپلو ورکړو څخه خلاصون نشي موندلی. دبیلګې په توګه د ځمکې ، مال ، څارویو ، مالی لوازم او هغه اضافي اثاثیه چې د مستقیمو عایداتو او محصولاتو له جملې څخه دي.

غیر مستقیم عایدات لکه د معابرو، پوستې او داسې نورو شیانو عواید دي او مستقیماً په اشخاصو باندې نه وضع کيږي او له لومړني مالیه ورکوونکي څخه نورو اشخاصوته انتقالیږي؛ مثلاً: د ګمرکي عایداتو په صورت کې چې ګمرکي حقوق له واردونکو تجارانو څخه اخستل کيږي او د یادو شویو ګمرکي حقوقو له نتیجې څخه اصلاً د تجارانو د مال قیمت اضافه کيږي او همغه وخت ګواکي پیرودونکي ګمرکي حقوق اداکوي، نو ځکه خو ګمرکي تعرفه له وارد کوونکي تجار څخه پیرودونکي ته انتقال مومي. د مستقیمو او غیر مستقیمو عایداتو تر منځ یوبل توپیر دا دی، چې اولیه په ټاکلیو وختونو او ثانویه د خدمت د اجرا پر مهال د حکومت له لوري اخستل کيږي. دغه مسئله کیدای شي تائید کړو، چې مالیه ډیر مستقیم عایدات او غیر مستقیم محصولات وي. امّا دغه تائید څرنګه چې یې پورته یادونه وشوه، یو قطعي صورت خپل ځان ته نشي اتخاذ کولای.

نوځکه خو یوازې همدغه بیلګه چې ګمرکي حقوق یوه مالیه او په عین وخت غیر مستقیم عایدات دي، د مطلب په ذهن کې د ځای په ځای کولو لپاره بس ده. مختلف ارقام نشي کولای عایدات ډیر تشریح کړي. یوازې همدغه مطلب ته تشریح ورکول کيږي، چې مالیه لرغوني اصول دي، چې په غیر متمدنو هیوادونو او د ترقي له شاهراه ګانو څخه لیرې یانې د ترقي په اصولو او د پرمختګ په بنسټونو او هم د تمدّن له توسعې او پراختیا سره موافق نه وو، هم موجود ؤ، دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطلب علاوه کیږي. دعایداتو اصل تقریباً په ټولو ممالکو کې سره ورته دي، اما یوازې دهغوی تحصیلي اصول د یوه هیواد د بل هیواد په پرتله سره توپیر لري او دغه پورته یاد شوي توپیرو د عایداتو مربوط او له هیوادونو څخه د هر یوه حیات او معهذا د هر وخت لپاره د اصلاح امکان لري او دغه اصلاحات د دې باعث کیږي ترڅو په یوه دولت کې د هغه اداري جوړښت د ترقي او پرمختګ په لور بوځي، چې د مالیاتو د دوایرو تشکیلات ښایې په لومړي صف کې وي.

**د مستقیمو مالیو ګټې**

د دولت له لوري د عایداتي لارو پیدا کول، له محدودو اشخاصو سره د پانګې قوه له منځه وړل، له پولي نورم سره مبارزه او د دولت ګټور کیدل له مشروعو عایداتي لارو څخه.

**دمالیو د مبنا ټاکل او د مناسب نرخ اعمال**

له مالیو څخه په هره یوه مالیه کې باید لومړی د هغه مبنا وټاکل شي او بیا یو مناسب نرخ اعمال کړي، د مالیو له مبنا څخه منظور هغه څیز دی، چې د مالیو شمول ګرځي، د مالیو مبنا ممکن د مربوطه اشیاوو د مؤسسو او شرکتونو د اشخاصو عاید، د ټول پلورنې د حجم معامله، د میراث د شتمنۍ ارزښت او په دې ډول نور. دې مبنا لره ممکن د تصدي له مناسب نرخ سره د مالیاتو شمول قرار ورکړي او څو په سلو کې په مناسب نرخ سره او یا له هر فزیکي واحد څخه یو معین مبلغ، حجم، وزن ، تعداد او داسې نور موندل کیږي.

مثلاً که چیرې د مالیو نرخ په سلو کې لس وي، هغه شخص چې سل زره افغانۍ عاید لري په داسې حال کې چې د بل عاید یو میلیون افغانیو ته رسیږي او یو لک افغانۍ مالیه ورکوي. په تصاعدي نرخ کې د عاید د میزان لوړ تلل یا د مالیو د مبنا په ارزښت کې لوړ نرخ په کار وړل کیږي. معمولاً په ټیټو طبقاتو کې د مالیاتو د نرخ عاید ضعیف او په لوړو طبقاتو کې یو څه لوړ نرخونه نسبت مازاد ته، ما قبل اعمالیږي. په تصاعدي نرخونو سره مالیې د متناسبو مالیو د نرخ په پرتله عادلانه دي، ځکه چې د مالیاتو د مبنا د ډیروالي ډیره برخه د دولت عاید ګرځي، لکن تصاعدي نرخونه باید په ډیر دقت سره انتخاب شي. د دولت په مالیاتي عاید سره د ملی عاید په کموالي یا زیاتوالي سره نسبتاً ډیر زیاتوالی او یا کموالی پیدا کوي. په همدې ترتیب له اقتصادي تعادل سره مرسته کیږي. همدا راز تصاعدي نرخ نه باید په داسې ډول وي چې په خصوصي ځانګه کې د کړنو د مخنیوي موجب وګرځي.

**د مالیو انتقال او د نهایې ادا کوونکي تضمین**

د مالیو دلیږد مسئله او د نهایې ادا کوونکي تشخیص له مالیاتي مسایلو څخه یوه خورا پیچلې مسئله ګڼل کیږي، ځکه چې په اغلبو مواردو کې یې مالیې له یوه شخص څخه ترلاسه کیږي. د هغه واقعي ورکوونکی یو بل شخص دی، چې لومړنی اداکوونکی ممکن په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډولونو سره وکولای شي له مالياتي بار څخه يوه برخه کوم بل چا ته وليږدوي.

په پلور او مصرف باندې ماليې معمولاً له همدغه ډول ځانګړنو څخه برخمن دي، ځکه چې دمشمولو کاليو مصرف کوونکي هغه ماليې دي، چې د کاليو په اخستنې سره په تعين شوي قيمت سره ټاميږي يا د اړونده ماليو يوه برخه اداکوي. دغه انتقال ته وروستنی کړنې او انتقال ويل کيږي. دليږد يو بل ډول دغه دی، چې توليد د کاليو تر توزيع کوونکو د ماليو مشمول د دې لپاره چې د ماليو د پار يوه برخه نورو اشخاصوته وليږدوي کوښښ کوي ترڅو د توليد عوامل په کم قيمت سره ترلاسه کړي او لاسي کاريګر ته لږه حق الزحمه ورکړي.

له اضافاتو سره معمول هغه ته نه ورکوي. يا د اوليه مواد ارزانه وپيري او له همدې امله په همدې ترتيب په لومړي حالت کې لږونکی(مصرف ونکی) د ماليې بار په دويم حالت کې د توليد د عواملو عرضه کوونکيوته منتقليږي. دماليو ټول انتقال يا يې د عمده برخې انتقال، چې د اجناسو په نرخ پورې اړونديږي؛ لکه: الکولي مشروبات او د خانيات لرونکي ته يو واضح امر دی لکن د اکثره مالياتو د انتقال موضوع په قطعي توګه سره روښانه نه ده چې واقعاً کوم کسان د شرکتونو ماليې اداکوي. آيا د شرکتونو د منافعو له ځايه اجناس ورکول کيږي او که يې يوه برخه. د زياتوالي له لارې قيمت وروستنی کړنو ته منتقليږي، يايې يوه برخه مخ په لږ والي ده. مزد د توليد نور عوامل دي، چې مخکنيو فعاليتونوته انتقال مومي. ايا افراد د خپلو عايد او ټول ماليات شخصاً پخپله ادا کوي يايې يوه برخه په نورو کسانو باروي، د دغو سختو مسايلو د تحليل لپاره نورې ډيرې پلټنې لازمي دي، ځکه چې د مالياتو انتقال پرته له کومې توجه او د نهايې ادا کوونکي ټاکل په مختلفو مالياتو کې ، د مالياتي سيستم دعدالت ارزونه ، او د هغه د اغيز اندازه د ټولنې په اقتصاد کې ښايې ډيره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دويم څپرکي د مطالبو لنډيز**

سره له دې چې د تير درس په برخه کې په نړۍ کې د ماليې له لرغونتوب څخه په خپرو ابعادو سره يادونه شوې، امّا په دې مبحث کې د تيروخت او حال دماليې شکلونه او ډولونه مطرح دي. بايد دې ټکي ته پام وشي، چې ماليه د دولت دعايداتو يو اساسي جز جوړوي. په همدې خاطر هر څومره چې دمالياتو مبنا د هغو په علمي معيارونو سره د بحث وړ وګرځي، په هماغه اندازه د ټولنې اقتصاد پر مختګ کوي. په همدې ډول د راټولونې بڼې ان ماليات په دې بحث کې په پام کې نيول شوي دي.

او له تجاربو څخه يو لړ مستند معلومات او د پرمخ تلليو هيوادونو علمي را ټولونې راټولې شوې، ترڅو چې د ماليې د ورکړې اصول چې له مهمو وظايفو څخه يوه وظيفه او ګرانو هيواد والوته د يوه ذهنيت ورکول دي او له بل لوري پرعايداتو باندې د ټولو مالياتو په موضوعاتو کې ده چې په ټولنه کې د قانون اولايحې په رؤيت ورکول کيږي. دفصل په بحث کې يادونه وشوه چې ماليې څرنګه او په کومو شرايطو او په کومو معيارونو يې تکامل موندلی. د تکامل پروسه له کوم ځايه پيل او ننني مالياتي سيستم په څو ډوله او په څوشکله دی. غوره به داوي، چې د کتاب دموضوعاتو له لوستلو څخه وروسته د استفادې توپير اوموضوع ګانې ګرانو ويونکو ته پريږدو.

**د دويم څپرکي پوښتنې**

۱. دماليې د ډولونو په هکله معلومات وړاندې کړئ؟
۲. د مستقيمې او غير مستقيمې ماليې تر منځ څه توپير دی؟
۳. په پرمخ تللو هيوادنو کې د ماليې سيستم څرنګه دی؟
۴. دماليو د ورکړې قواعد څه چې مو ويلي دي تشريح يې کړئ؟
۵. ماليه د څه شي له مخې وضع کيږي تشريح يې کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم څپرکي

## د ماليو تصنيف

**ټوليزه موخه:**

په مالياتي سيستم کې د اجرأ وړتيا او اطمينان

**د زده کړې موخې:** محصلين بايد د څپرکي په پای کې لاندې موضوعات تشريح کړي.

- د ورکړې د لګښت معقولوالی
- په مالياتي سيستم کې د اجرا وړتيا
- مالياتي خدمتونه
- په مالياتي سيستم کې د دولت رول
- د ماليو مختلف ډولونه

**عملي معيارونه د ټولنې د مالياتي سيستم لپاره:** د مالياتي عدالت د رعايت لپاره او همدا راز د مالياتي سيستم په اقتصاد کې د مالياتو دمنفي اغيزو د مخنيوي په منظور بايد د اداري ځانګړنو واحد صحيح وي. همدغه ځانګړنې عبارت دي د اطمينان له معقولوالې څخه او همدا راز د ورکړې له لګښت او د اجرا وړ ماليو له موندنې او عامه معقوليت څخه.

**د ماليو اخستنې په سيستم کې اطمينان:** د اقتصادي فعاليتونو د توفيق لپاره اطمينان دسياسي ثبات يوه ځانګړې ځانګه او د مالياتي سيستم مطمئن والی له لازمو او خورا مهمو شرايطو څخه ګڼل کيږي، ځکه چې په عادي شرايطو کې پانګه اچونه د خطراتو د منلو مستلزم ده. که چيرې پانګه اچونه په مالياتي سيستم کې ترلاسه شي، ښايې د نظر وړ فعاليتونو څخه تشکيل شي او ښايې په ډير خطر کې وي او پانګه اچونه په لږه اندازه سره ښايې تره سره شي. افراد هم بايد له هغو ماليو څخه چې هغه د وړاندويني وړ نه دي، چې د لاس مزد او دهغوی نور عايدات وضع کيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسئون به وي. مالياتي قانون باید روښانه او مشخص وي او د تصمیم اتخاذ باید په لږو مواردو کې د ارزیابی او د مالیو د اصولو د مامورینو په اختیار کې ورکړل شي. که چیرې مالیاتي قانون مبهم وي او مامورین پخپل زړه مشخصه پریکړه غوښتل وغواړي، نو یو څو موارد باید وټاکي، چې نوموړي **موارد دادي:** د مالیاتو په چارو او د عامه اعتماد په جلبولوکي د برابرۍ او هم غږۍ رعایت، د مالیاتو سیستم په نسبت ښایې نا ممکن وي.

**په مالیاتي سیستم کې د ترسره کولو وړتیا**

یو ښه مالیاتي سیستم هغه مالیې چې د هغو موندنه غیر ممکنه وي، نه دفع کوي آن تر دې، چې ډیری یې د مالیو ورکوونکو په اتفاق سره د خپلو مالیو پورونه  په داوطلبانه توګه سره اداکوي. باید د مالیې د ورکړې امکان شتون ولري، که نه د مالیاتو د وضع صورت دمالیاتي قوانینو د تهیې په منزله باید مالیاتي پرنسیپونو ته او د پیش بینی شویو شرایطو د ترسره کولو وړتیا ته هر اړخیزه پاملرنه باید وشي. په همدې هکله دقیق محاسبات باید ترسره شي ، حتي په خاصو مواردوکي د اطمنان د اصولو لپاره دمالیاتو د ترسره کولو د وړتیا لپاره د آزمیښت د ترسره کولو موضوع هم ښایې اړینه وي.

**د لګښت معقولوالی او دمالیو راکړه ورکړه**

له هغه ځایه، چې د مالیاتو د ورکړې لګښت له فردي لوري (تادیه) د موندنې لګښت د دولت له لوري ملي محصول ته څه شی نه ور اضافه کوي. د ټولنې ګټې نباید د تحمل له لحاظه درانه لګښتونه په دې لاره کې تلف شي. دمختلفو مالیاتو د راکړي ورکړي دلګښتونو د چارو په اړه باید وویل شي، چې ډیری دمالیاتو ورکړه دحقیقي اشخاصو پر عاید باندې خصوصي وو، نه د اداکوونکي لپاره حقوق او دلاس مزد او د اضافي لګښت دستګاه او یا د نا څیزه خرڅ درلودونکي ده، د نورو مالیاتو په اړه همدا راز دحساب ساتنی مخارج او پخپل ټاکلي وخت ورکړه یا په قسطونو څرنګه چې په داوطلبانه توګه ترسره کیږي، وضعیت په همدې شان دی لکن د نظر د اختلاف په صورت کې چې دمالیاتو د ورکوونکي او موندونکي ترمنځ به وي او یا مالیات باید د مالیاتي قدرت په اعمال سره اصول شي. مؤدي او همدا راز دولت به ډیر لګښت ښایې تحمل کړي.

دشرکتونو دمالیو ورکړه د ډیر لګښت درلودونکې ده. ځکه چې اکثراً د قانوني دفاترو په ساتنه او د حسابدار په خدمت ګمارل او د داسې نورو قانوني تشریفاتو په ترسره کولو مؤظف دي.  له همدغو مخارجو څخه یوه برخه د دوو موخو درلودونکې ده، یانې هم دمالیاتو د امر لپاره او هم د ګډون کونکو د خبرداري لپاره. نو په همدې بنا د مالیاتو د ورکړې دمخارجو په ټاکلو کې حقوقي اشخاص باید د مالیې په ورکړه مستقیمو او غیر مستقیمو مخارجو ته پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د مالیاتو په ور کړه کې معقولیت**

له ټولو څخه غوره داده چې مالیاتي سیستم د ټولو دمنلو او تائید وړ دی او د عامو په نظر د عدالت د رعایت له لحاظه باید توافق ولري او هم د هغوی دمالي وس او توان په پرتله دروند او دنه تحمل ځرګندونه ونکړي. مالیات له همدې خصیصې څخه برخورداره کیږي، چې په پورته یادو شویو شرایطو خصوصاً د مالیاتو د عدالت له شرط څخه برخور داره وي.

**مالیاتي عدالت**

د مالیاتي سیستم عادلانه توب د یوه اقتصادي فن مسئله نه ، بلکې یوه انساني فلسفه ده، نو ځکه نشو کولای، د مالیاتي عدالت یو خاص تعریف وکړو او هغه په یوه ټاکلي شرط محدود کړو. له دې سره سره د زماني په تیریدو سره اصول د نظر د څښتنانو د پام وړ ګرځیدلي، چې په بنسټ یې کیدای شي یو مالیاتي سیستم د عدالت د شرط له لحاظه تر ارزیابۍ لاندې ونیول شي. د اصولو دغه اعمال عبادت دی د خدمتونو له اصلي قیمت څخه او د ورکړې د توان اصل د خدمتونو د قیمت اصل مستلزم د دې دی، چې مالیې د اشخاصو د ګټې په نسبت په دولتي خدمتونو کې کوي. د هغوی په منځ کې توضیح کړای شي، خلک د کالیو بیه او هغه خدمتونه چې له خصوصي ځانګړې څخه یې ترلاسه کوي ادا کوي ځکه چې نه بایده په دولتي ځانګه کې هم په همدې ترتیب عمل وشی. که د مالیاتو وضعیت د خدماتو په هغه اصلي قیمت استوار نه وي، له استفاده کوونکیو څخه یوه برخه د دولت له خدماتو څخه د دولتي مرستو د موندونکو په منزله ښایې، چې وي، ځکه چې له دولتي خدمتونو څخه ګټه کوي، او حال داچې له دوی څخه د نورو اشخاصو په وسیله تأمین شوي دي. د اجتماعي بیمو له مزایا وؤ څخه ګټه ځینې له پیسو او شاهراوو څخه د دولت تجارتي خدمات؛ لکه: د هغوی د ورکړې په مقابل کې له هغو څخه د ګټې حق دمالیاتو د ورکړې ډول د خدماتو د قیمت اصل او بنسټ دی. ځکه تر څو چې دبیمو حق په بیا بیا ځلې ادانکړي یا د نقلیه وسایطو درلودونکي له پله او یا شاهراه ګانو څخه د تیریدو ټاکلی حق ادا نکړي، یا د پوستې خدمتونه د هغه قیمت په خاطرتادیه نکړي نو بیا به له دغه ډول دولتي خدمتونو څخه د ګټې حق ونلري، خو لکن له دغه اصل څخه یوازې په هغو مواردو کې کار اخستلای شي، چې له دولتي خدمتونو څخه ګټه اخیستوونکي و اوسي

او د هر یوه برخه د تعین او اندازه ګیرۍ وړ وي ، یوازې په همدغه حالت کې دی، چې کیدای شي مالیات د مؤدیانو د استفادې په نسبت توضیح کړي او له هر یوه څخه عادلانه برخه ترلاسه کړي. امّا څرنګه کیدای شي د دفاع لګښت یاد پرورښت زدکړې لره د هیواد د جمعیت تر منځ تقسیم کړای شي.

**د هیواد عمومي مصارف**

په ټولو متمدنو هیوادنو کې ځینې مصارف شتون لري، چې په عامه ګټو پورې اړه لري؛ لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بندونو، نهرونو لارې د شاهراوو تنوير او همدا شان د ځوانانو روزنه، ساختمانونه، د وزارتونو او نورو حکومتي دوايرو تعمير چې دملتونو اړتياوې څرگندوي. نوځکه خو هغه لازم مبلغونه چې د يادو شويو اړتيا وو دتکميل لپاره او همدا راز هغه معاشات چې د ادارو د مامورينو او آمرينو لپاره د اړونده چارو د اجراتو اړونديږي. بهرني سياست ، عدليه د هيواد داخلي امنيت ، تجارت او فابريکې او دغسې د نورو ځايونو امنيت ساتي، مخابره چې په کي په مصرف رسيږي عامه مصارف نومول کيږي.

**د مملکت عمومي واردات**

هغه مبلغونه، چې د همدې ټولو لگښتونو د اجرا لپاره يې حکومت ترلاسه کوي عامه واردات نوميږي. عامه واردات په لاندې ډول دي.

۱. ماليات او محصولات
۲. د مملکت د موروثي املاکو عايدات
۳. د حکومت انحصارات.

**د مملکت د موروثي املاکو عايدات**

داهم د عمومي منابعو يوه بله جنبه يا اړخ دی، د غوره او ښې توزيع کولو لپاره په دغه ډول عايداتو بايد پوه  شو، چې د مملکت موروثي املاک په څه مفهوم دي. د مملکت د موروثي املاکو تعريف په لاندې ډول دی، د مملکت د موروثي املاکاتو له کلمې څخه داسې نتيجه ترلاسه کيږي،  چې ټول هغه شيان چې په مملکت او خالصې تجارتي شتمنۍ پورې اړونديږي، د مملکت موروثي املاک نومول کيږي. له پورتنۍ تشريح سره سم ټول ځنگلونه ، معدنيات زراعتي ځمکې او يا د زراعت وړ ځمکې او داسې نور مختلف امتعه په مملکت پورې اړونديږي او همدغه املاک په دوو برخو تقسميږي، منقوله اوغير منقوله املاک چې پلورل کيږي او پيرل کيږي او د تجارتي املاکو کلمه نومول کيږي، نظر په همدې مطلب بايد يادونه وشي چې غير منقول املاک په دوو لاندې حصو تقسميږي.

**۱. طبيعي غير منقوله**
**۲. غير طبيعي غير منقوله**

د طبيعي غير منقوله املاکو په اړه د هغوی تشريحات چندان د يادوني وړ نه دي، بلکې ښايي لازم وي او هغه لکه عمارت، اراضي او داسې نور دي، يانې د غير منقول والي خاصيت لره طبيعي رقم شته او د غير منقوله غير طبيعي املاکو په خصوص کې د يادونې وړ ده، چې دغه املاک طبيعتاً غير منقول نه وو، بلکې د انسانانو په واسطه يې د غير منقول صورت ځان ته غوره کړي دی.  مثلاً ماشين د منقوله اموالو له جملې څخه ده خو که چيرې همدغه ماشين په يوه فابريکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نصبیږي نو بیا همدغه ماشین د غیر منقولو والي خاصیت ځانته غوره کوي ، نوهمدغه خبره ده چې د غیر منقولو په جمله کې ګڼل کیږي. د هغو زراعتي آلاتو لپاره چې په ځمکه کې د ځمکې د حاصلاتو داستخراج لپاره نصب شي، پورتنۍ مسئله تائیدیږي. باالعکس نور داسې املاک هم شته، چې په یوه هیواد پورې اړه ولري، ولې تجارتي خاصیت نلري، متعلقه املاک عامه نومول کیږي مثلاً سړکونه ، دریابونه ، کوځې ، بندونه او داسې نور. یوبل توپیر، چې د مملکت د موروثې املاکو او د عمومیه متعلقه املاکو تر منځ موجود دي. هغه دادی چې اشخاص د هیواد له موروثې املاکو څخه ګټه اخلي مؤظف دي، چې د مؤخذه منافعو یوه برخه په نقدي او یا جنسي ډول وي او د هغه د امتیاز متعلق وي، چې حکومت ته یې ورکړي. برعکس له عامه متعلقه املاکو څخه هرڅوک په وړیا توګه ګټه اخیستلی شي. مګر په ځینو حالاتو کې مجاز نه دی د هغه د محصول تر تادیې پورې د هغو عرادو لپاره، چې د هیواد له معابرو څخه تیریږي او را تیریږي.

**د مالیې او محصول تر منځ توپیر**

دمالیې او محصول ترمنځ توپیر په نظر کې کم او د محصولاتو دمالیاتو په عملیه کې عایدات دي  او هغه اشخاص چې دغه عایدات ورکوي، مالیات ورکوونکي نومیږي. دغه عواید که دولتي دي یا ښاروالي، اما په هیڅ وجه د یادو شویو مالیاتو په خاصیت کې تغیر نه پیدا کوي.

په دواړو صورتوکې د دوی خپل اساسي والی او قانونیت د مملکت په قوانینو کې حایز وي. په بین المللي رسنیو کې د مالیاتو او محصولاتو کتاب ازاد کتاب دی نو دهمدې آزاد کتاب د لیکونکي په عقیده د هغو ډیر آسانه او ډیر ساده په لاندې ډول دی. مالیه یو ډول ورکړه او عایدات دي چې یوازې یو ډول مملکتي اساسي منابع ګڼل کیږي او حکومت د عامه لګښتونو د ترسره کولو لپاره هغو ته اړتیا لري، دهمدغې برخې تعلق د آبې یا للمې ځمکو ، مال ، او څارویو ، ژرندو او همداسې نورو شیانو پورې دي. محصول یو ډول عایدات دي، چې د هیواد له اساسي منابعو څخه یوه منبع ګڼل کیږي. او هیواد دعمومیه لګښتونو د بشپړتیا لپاره اړتیا لري. اما په همدې مهال د یوه خدمت په اړه احساس کیږي، چې هیواد یې د محصول ورکونکي شخص لپاره تر سره کوي. په دې برخه کې د پستې ؛ تیلګراف ، ټیلفون او معابرو محصول او همدا راز د ځینو اسنادو محصول؛ لکه:  قباله ؛ حجت ، وکالت او داسې نور، چې وثیقه نومول کیږي. هغه بیلګه چې دمالیې او محصول په اړه ورکړل شو داسی ګمان کیږي،  چې د پورته دوو یادو شویو جملو د مانا لپاره کافي ده.

**د قیمتي اسنادو (وثیقه) محصول**

**قباله:** د مالیې له نقطې نظره هیواد د عامه لګښتونو د اکمال لپاره اما په همدغه وخت د یوه خدمت احساس کیږي. چې هیواد یې د محصول ورکوونکي  شخص لپاره تر سره کوي. په دې برخه کې د پستې، تیلګراف او معابره محصول او د ځینې نورو اسنادو محصول؛ لکه: قباله، حجت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکالت او داسې نور چې وثیقه نومول کیږي.

**هدف:** هر هغه وخت، چې پورتنی امتیازي نورم نه تطبیقیده، نو مالیه به له 2,300,000افغانیو څخه 000, 325 افغانیو ته رسیده. په سلو کې 2، 29 سهامي او محدود المسؤلیت شرکتونه له پورتنۍ طریقې څخه استفاده نه کوي. دمالیاتي قانون د 29 مادې له مندرجه احکامو څخه په استفادې سره دسهامي او محدود المسؤلیت شرکتونو لپاره کوم مالیاتي منفعت په لاس نه راوړي،

څکه د دغو شرکتونو مالیه ثابته او د نورم په اساس 20 شل فیصده وضع کیږي ، نو څکه خو د ګټې دهغه اوسطه ټاکنه د مالیې نورم ته تغیر نه ور کوي. په سلوکې 29، 3 تر لاسه شوي ګټه له هغو شتمنیو څخه چې له 18 میاشتو څخه په کمه موده کې په ملکیت کې وي د دې مادې د احکامو تابع نه ګرځي. نو په همدې بنا د دې څېړکې محتوا مفرداتو او مالیاتو ته د تابعو لوایحو په نظر کې نیول دي چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د دې سیستم پر مبنا باندې مالیاتي روحیه یې په واجد شرایطو اشخاصو باندې د هر فرد د حصې د ادا پخاطر وضع او د تطبیق وړ یې بولې. چې  د دغه ډول مقرراتو تر سره کول د خپریدونکي په توګه د هرچا مسؤلیت دی. شرایط د مالیاتو او عایداتو په داوطلبانه ورکړه کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دریم څپرکي د مطالبو لنډیز**

که څه هم د مالیې ورکړه یا په بل عبارت د مالیاتو د اجرا عمل یو حتمي او ضروري کار ګڼل کیږي. په تعریف کې د اجباري ورکړې یادونه شوې ده، لاکن د مالیې د ورکړې عمل یو ضروري کار ګڼل کیږي، چې پرته له هغه څخه دولت د تولنیزو خدماتو د ترسره کولو توان په کُلي توګه سره نلري، ځکه چې همدغه دمالیاتو د قانون موجودیت دی، چې د دولت اقتصادي بنسټ پیاوړی شوی دی او له بله پلوه خلک دا درکوي، چې کله د دولت له خدماتو څخه پرته له کومې پولي وجې څخه ګټه واخلی، نو په حقیقت کې خپل ځان مسؤل ګڼي، تر څو له دولت سره یوه رابطه ولري او دجامعې یا ټولنې له مقرراتو او قواعدو څخه سر پیچي ونکړي، نو ځکه خویې د مالیې ورکړه نه یوازې یو ملکفیت ګاڼه بلکې له خپل دولت سره یې د همکارۍ په موخه یوه انساني وجیبه بولي.

دهمدې اصل له مخې نه یوازې دمالیې ورکړه، بلکې په دولتي ټولنیزو فعالیتونو کې ګډون کول خپله ایماني او وجداني دنده د دین او دنیا په وړاندې بولي.

نو د دې برخې غوړیدلي ابعاد د هر فرد لپاره ټولنیز احساس ورکول چې دهموطنۍ د مسؤلیت په درک کولو وپوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د دریم څپرکي پوښتنې

۱. آیا مالیې ته یوه اجباري ورکړه ویلای شو؟
۲. ولې مالیه دولت ته ورکړو؟
۳. د دولت وړیا خدمتونه له کومو مراجعو څخه تمویلیږي؟
۴. د دولت مالیاتي عاید کومو مراجعو ته په مصرف رسیږي؟
۵. په مالیه کې اطمینان په څه مانا دی؟
۶. په مالیاتي سیستم کې عامه معقولیت تشریح کړئ!
۷. ټولنیز عدالت او په مالي سیستم کې اجراآت څه شی دي تشریح یې کړئ؟
۸. مالیه د دولت څو فیصده عایدات په برکې نیسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د صنايعو وده

**ټوليزه موخه:**
صنايع د يوه مملکت زړه او روح ګڼل کيږي او د صنايعو اهميت د يوه هيواد دمالياتي عوايدو په زياتوالي کې ډير اهميت لري.

**د زده کړې موخې:** محصلين بايد د دې څپرکی په پای کې لاندې موضوعات توضيح کړي:

- له نوي مالياتي قانون څخه دقيق اعداد او ارقام.
- د مالياتو نوې فيصلې.
- د دولت له مخکنيو فيصلو څخه پرهيز، د بېلابېلو مالياتي څانګو په اړه او د هغو غير عملي اغيزې.
- د عوايدو توليد.
- اجتماعي موخې.
- اقتصادي موخې.

**پر عايداتو باندې د مالياتو د نوي قانون په اړه مختصر معلومات**

پر عايداتو باندې د مالياتو نوی قانون دملي شورا له تصويب څخه وروسته د 171 شمارې د فرمان په اساس، چې په 27/ 12/ 1387 تاريخ د افغانستان د اسلامي جمهوری رياست له لوري توشيح او د 976 شمارې په رسمي جريده کې په 28/ 12/ 1387 تاريخ نشر شوی دی.

هغه عمده او مثبت تغيرات، چې د مالياتو په قانون او مالياتي نظام کې څرګند شوي دي، په لاندې توګه دي.

- د صکوکو قانون او ډولونه، چې مخکې به د تطبيقيدو وړ ؤ، اوس لغوه شوي دي.
- د استهلاکي موادو ماليه لغوه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هغه جرایم چې د مالیاتي اخطار نامې له نه وړاندې کیدو څخه پورته شوي، په سلو کې یې پنځوس سلنه کمښت موندلی.
- د مخکنیو کلونو د مالیاتو باقیات له 1381 کال څخه معاف شوي دي.
- له کال 1381 څخه تر کال 1385 پورې مالیاتي جرایم په هغه صورت کې معاف ګڼل کیدای شي، چې مالیاتي حسابونه پرعایداتو باندې د مالیاتو د قانون د تاریخ له نشر څخه تر دریو میاشتو وروسته تصفیه شي.
- انتفاعي مالیات د صادراتو له عوایدو څخه معافیږي.
- انتفاعي مالیات د فیس، ټکټانه، بانکي لیترآف کریدتونو له مدرکه معاف شوي دي.
- د کرایې مالیه له شل فیصده څخه لس او پنځلس فیصده پورې راټیټه شوې ده.

**نوټ:** دمخکیني قانون جرایم د حقیقي او حقوقي یا حکمي اشخاصو په مخ په مختلفو حالتونو کې په نظر کې نیول شوي وو چې په لاندې توګه وړاندې کیږي.

۱. هغه حقیقي شخص چې پرته له دلایلو څخه د اړونده مالیاتو اظهار نامه د دې قانون د احکامو مطابق د ټاکلې مودې په اوږدوکې وړاندې نکړي، د هرې ورځې په څنډ سره د دوو سوو افغانیو په اندازه د اضافي مالیې په ورکړه او حکمي شخص بیا د هرې ورځې په تآخیر سره د زرو افغانیو په اندازه د اضافي مالیې په ورکړې سره مکلف دی. د رخصتۍ ورځې له دې امر څخه مستثنی دي.

۲. هغه حقیفي شخص چې د بشپړې بې پروایۍ له امله اړونده مالیاتي اظهار نامه د دې قانون د احکامو مطابق، په خپله ټاکلې موده کې وړاندې نکړي، د هرې ورځې دځنډ په سبب د څلورو سوو افغانیو په اندازه د اضافي مالیې په ورکړه او حکمي شخص بیا د هرې ورځې دتآخیر په سبب د دوو زرو افغانیو په اندازه د اضافي مالیې په ورکړې سره مکلف دی. د رخصتۍ ورځې له دې امر څخه مستثنی دي.

۳. هغه حقیقي شخص چې په قصدي توګه اړونده مالیاتي اظهار نامه د دې قانون د احکامو مطابق په خپله ټاکلې موده کې وړاندې نکړي، نود هرې ورځې د تآخیر په سبب به د اتو سوو افغانیو په اندازې سره د اضافي مالیې په ورکړه او حکمي اشخاص به بیا د هرې ورځې د تآخیر په سبب د څلورو زرو افغانیو په اندازه د اضافي مالیې په ورکړه مکلف وي البته د رخصتۍ ورځې له دې امر څخه مستثنی دي.

۴. هغه شخص چې د تېښتې په قصد د اړونده مالیاتي اظهار نامې د دې قانون د احکامو مطالبه په خپله ټاکلې موده کې وړاندې نکړي، سر بیره داضافي مالیې په ورکړې چې د دې مادې په دریمه فقره کې درج ده له احوالو سره سم تر دوه سوه او پنځوس زرو افغانیو په اندازه په نغدي جریمه او یا تر دوو کلونو پورې په حبس او یاهم په دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړو جزاګانو باندې محکومیږي، چې په نوي قانون کې ټولې ملا ماتوونکې پریکړې له منځه تللې او په عوض کې یې هر هغه وخت چې یو حقیقي شخص د مالیاتو اظهار نامه په خپله ټاکلې موده کې ادا نکړي، نو بیا د هرې ورځې د تآخیر په سبب د سلو افغانیو په اندازه په جریمه ورکولو مکلف دی. او حکمي شخص په هره یوه ورځ کې د 500 افغانیو په ارزښت په جریمه ورکولو مکلف دی خود مالیې د نه ورکولو په صورت کې ښارنوالۍ ته ورپیژندل کیږي.

**د مالیاتو غیر تابع عایدات**

لاندې ترلاسه شوي مبلغونه پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع نه دي ، اظهار نامې حقیقي او حکمي اشخاصو لره نه شاملیږي.

۱. بخششۍ، تخفیفونه، انعامونه، جایزې او مکافات د حکومت له لوري.

۲. بخششۍ، تخفیفونه، انعامونه، جایزې او هغه مکافات، چې د خارجي دولت پرمختګ او د بین المللي تفاهم له فعالیتونو څخه د تقدیر په موخه ورکول کیږي.

۳. سکالر شیپونه، فیلو شیپونه او ټول هغه کومکونه یا مرستې، چې د معاملاتو د زیاتیدو او یا هم د مسلکي او فني ت زده کړو د اصلاح او پرمختګ لپاره وي.

۴. له صحي بیمې څخه عاید د بیمې ګټې ، تصادم او بیکاري.

۵. عاید د حیات یا ژوند له هغې بیمې څخه چې له مرګه وروسته تادیه کیږي.

۶. له ټپ، مرضي، استقراض یانې پورول، او دحیثیت له اعادې څخه د راپورته شویو خساراتو تلافي یا تاوان ورکول.

۷. د شرکتونو په واسطه د پور او نورو مهمو اسنادو له صدور څخه ترلاسه شوي عواید.

۸. د شتمنۍ حصول د داخلي سهامي شرکتونو او د نورو ټولو حکمي شخصیتونو د الحاق له لارې.

۹. د منقولو او غیر منقولو شتمنیو حصول د پور وړې د ملکیت د حقوقو د سلب له لارې د پور ورکوونکې په واسطه.

۱۰. له پورړیو څخه د اصل قرضې حصول.

۱۱. د پس انداز د صندوق مفاد ، مفادي امانات ، په دولتي بانکونو کې شامل شخصي حسابونه ، د ښاروالیو او دولتي پورونو اسناد.

۱۲. ټول ترلاسه شوي مبالغ د دې قانون د احکامو مطابق.

**د مالیاتو تابع عایدات**

۱. لاندې ترلاسه شوي عاید پرعایداتو باندې د مالیاتو تابع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. معاش ، مزد ، فیس او کمیشن.
۳. د صنعتي او تجارتي معاملاتو د عوایدو مجموع.
۴. د منقول او غیر منقول ملکیت له پلورنې څخه ترلاسه شوي عواید.
۵. پولي ټکټ ، ګټه ، برخه ، کرایه ، حق الامتیاز ، جوایز ، مکافات د بخششیو او قرعې له مدرکه عواید.
۶. د تضامني شرکت له عاید څخه د شریک برخه.
۷. له کار ، سرمایې یا اقتصادي فعالیت څخه ټول ترلاسه شوي عواید.
۸. ټول هغه حالات چې په قانون کې تصریح شوي دي.
۹. ټول هغه عواید چې په دې قانون کې یې وړاندوینه نه ده شوې.

**د ونډې ګټې:**

هر ډول توزیع هغه عواید دي، چې د شرکت له لوري د پولي شتمنۍ یا د هرډول متناسبې ګټې په بنه یې د دوی برخې یا حصې ته صورت نیولی او لاندې مواردو لره شامل دي.

۱. هر ډول ملموسه او غیر ملموسه شتمنۍ.
۲. په شرکت کې برخه.
۳. له شرکت څخه په هر ډول پیرودنه کې تحفې
۴. برخه لرونکوته پور.
۵. دیوه شرکت له هر ډول شتمنۍ څخه استفاده.
۶. هرهغه وخت چې په افغانستان کې د یوه غیر مقیم شخص غیر مستقله نمایندګي د دې قانون له مندرجې شوې اولې مادې سره سم یوه غیر مقیم شخص اویا هر هغه شخص، چې له دې سره مرتبط وي یو مبلغ ورکړي او یا د هغې ورکړې لره متقبل شي، نوموړی یا دشوی مبلغ د سهم د مفاد په حیث ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ځلورم څپرکي د مطالبو لنډيز**

په دې څپرکي کې هغه نوي اعداد او ارقام را ټول شوي دي ، چې نن ورځ د ماليې په محترم وزارت کې د بحث وړ ګرځيدلي دي

او ضمناً د دې څپرکي زدکړه ګرانو محصلينو ته د دولت د راتلونکو تصاميمو په اړه د ماليې راټولونې په اړه اګاهي يا خبرتياه ورکړي ده او د تيرو دورو دماليې راټولونې ملا ماتونکی سيستم يې د ماليې اچوونکو له اوږو څخه کم کړی او له کلني يا مياشتني عايد سره سم بايد د ماليې مشمولين د ماليې د لايحې په رؤيت خپله حصه دولت ته اداکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱. پر عایداتو باندې د مالیاتو نوی قانون د کوم ارګان له لوري مطرح دی اوکوم محتویات لري؟

۲. هغه عمده او ملا ماتوونکي جرایم چې لغوه شوي دي، کوم کوم دي نومونه یې واخلئ؟

۳. پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون د نشر تاریخ ولې فسخه شو؟

۴. صکوک او د صکوکو د ډولونو نومونه واخلئ؟

۵. د مالیاتو جرایم او اظهار نامې ولې پنځوس فیصده کمښت وموند؟

۶. د څپرکي د محتویاتو په اړه څه چې پوهیږئ ویې لیکئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکي

## مالیاتو ته په پام سره د صنایعو تصنیف

**ټولیزه موخه:**
د صنعت د قدامت توضیح او په تیره زمانه کې د هغې لاس ته راوړنې

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین راتلونکي معلومات ترلاسه کړي:

- په هیواد کې د صنعت د تاریخچې په اړه معلومات.
- زمونږ د هیواد صنعتي فابریکې.
- د مالیې اغیزې زمونږ په هیواد کې په ملي اقتصاد باندې.
- په هیواد کې د صنعت د ځانګې مالیاتي عایدات.
- د پروژې مطالعه.
- د داخلي کنترول سیستم ته لاسرسی.

**نظر مالیاتو ته د صنایعو تصنیف:** که چیرې پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون تر مطالعې لاندې ونیسو، نو د یاد شوي قانون له مخې مونږ دهیواد صنایع په دوو عمده برخو تقسیمولای شو، چې هغه عبارت دي له:

**الف –** ستر صنایع

**ب -** واړه صنایع

**د صنعت تعریف:** دصنعت تعریف کول یو ستونزمن کار دی او هیڅ داسې مؤخذ مو پیدا نشوای کړای، چې صنعت تعریف کړای شي:

صنعت په انګلیسي ژبه کې راغلی دی، چې د کوښښ په مانا دی او اوس دصنعت ماهیت تعریف کوو چې څه شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دصنعت اهمیت عبارت له اتصال او د شکل له تغیر څخه دی او دموادو له اعمال څخه، چې دهغوی بڼه دنامناسبو اړتیاوو د رفع کولو لپاره او دلږو اعمالو د پایلې په مقایسې سره مناسبه ده.

دوستانو اوس غواړو ستاسو لپاره دصنعتي کیدلو په اړه یو کوچنی تعریف وړاندې کړو.

د یوې اقتصادي پروسې صنعتي کول چې دهغې په جریان کې ملّی منابع د هرې ورځې د زیاتیدو په توګه تر مطالعې لاندې نیول کیږي. ترڅو اقتصادي ساختمان د نوي تخنیک له پلوه همداسي ځانګې ته انکشاف ورکړي.

**ستر صنایع**

له دې صنایعو څخه پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون پر بنسټ له سر جمعي ګټې څخه یې 10% فیصده مالیه اخستل کیږي، ځکه چې سترو صنایعو له وړو صنایعو سره سیالي کړې ده غواړي چې هغه ته ماتې یا شکست ورکړي. نو له همدې امله پر یادو شویو منابعو مالیه وضعه شوې ده. همدراز له یوه لوري یاده شوې اقتصادي بیه پیاوړې ده او له بل لوري له خپله فعالیته د پام وړ ګټه ترلاسه کوي او که په همدغه اندازه مالیه له وړو صنایعو څخه واخستل شي، نو به هیڅ کله ټولیز عدالت بر قرار نشي او ستر صنایع کوښښ کوي، ترڅو بازار انحصار کړي.

| واړه صنایع | | | |
|---|---|---|---|
| ۵۰۰۰۱ | ۵۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰ | ۱ |
| ۵۰۰۰۱ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰ | ۲ |
| ۵۰۰۰۰۱ | ۲۰۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۳ |
| ۲۰۰۰۰۰۱ | ۳۰۰۰۰۰۰ | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۵ |
| ۳۰۰۰۰۰۱ | ۵۰۰۰۰۰۰ | ۳۰۰۰۰۰۰ | ۷ |
| ۵۰۰۰۰۰۱ | ۸۰۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰۰ | ۱۰ |
| ۸۰۰۰۰۰۱ | ۱۵۰۰۰۰۰۰ | ۵۰۰۰۰۰۰ | ۱۷ |

ځرنګه چې د وړو مؤسساتو اقتصادي کمزورې ده او خپل فعالیت له نتیجې څخه د پام وړ مفاد نشي ترلاسه کولای.

د دې جدول په اثر دیرمختللی مالیې له ستونزې څخه محفوظ پاتکیږي. په اقتصادي تثبیت کې له سترو مؤسسو سره د داسې پالیسۍ دتعقیب یوه اندازه دمالي شتمنۍ جوړښت د وړو مؤسسو د تعداد زیاتوالی، د توسعې په څنګ کې تشویق شوي. دبیلابیلو تشبثاتو او زیاتو اقتصادي تشبثاتو لپاره ساحه او زمینه مساعده او برابر وي او همدا راز په دویم پنځه کلني پلان کې هم همدغه د مالي صنایعو ترتیب نیول کیده

**واړه صنایع**

پر عایداتو باندې دمالیاتو په نظر واړه صنایع مکلف دي، ترڅو له سر جمع مفاد څخه 5%

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماليه ورکړي او له دې کبله يې هغه په پنځه فيصده جوړه کړې ده، تر څو نوموړي صنايع د سترو صنايعو په مقابل کې سيالي وکولای شي.

څرنګه چې د وړو صنايعو د اقتصاد بنسټ هغومره پياوړی نه دی. ستر صنايع که يوشان د ماليې ورکړې دمقرراتو تابع وګرځي نو واړه صنايع به په يوه ډيره لنډه موده کې له منځه ولاړې شي او د دې امکان شته چې ستر صنايع د بازار ترخپل تآثير او اغيز لاندې راولي.

**په افغانستان کې د ماليات او صنعت تاريخچې**

په 1322 کال پر عايداتو باندې د مالياتو اصول نامه وضع شوه او پر صنايعو باندې دمالياتو په اړه په لاندې ډول توضيحات ورکوو:

١. د شرکتونو او تجارتي مؤسسو خالص عايدات، چې د دې اصول نامې احکامو لره شامليږي. په هغه صورت کې چې په کال کې يې مجموعي مقدار 5000 افغانۍ او يا له هغه څخه زيات وي. نو بيا له لاندې احکامو او موادو سره سم ماليات اخستل کيږي. په دريمه ماده کې اصول نامه په داسې ډول توضيح کيږي:

هر ډول صنعتي مؤسسې چې نوې تاسيسيږي او يا تاسيس شوې دي او له تاسيس کيدو څخه يې درې کاله تير شوي دي نومراعتًا د تآسيس له نيټې او د عملياتو له پيله تر دريو کلونو پورې د ماليې له اخيستو څخه معاف دي.

٢. همدا راز په څلورمه ماده کې اصول نامه ذکر شوې ده، هغه صنعتي مؤسسې چې د هغوی اصلي مرکز په افغانستان کې نشته نو ماليات به د خپلو خالصو عوايدو دمجموع په نسبت ورکوي.

اګر که له هغو عايداتو څخه د ټولو يا د يوې برخې تحصيل په بهرکې صورت نيولی وي. په اومه ماده کې ويل شوي دي، چې د پورته مؤسسو او شرکتونو دمالياتو په ټاکنه کې دلانديني ترتيب اساس او بنسټ ايښودل شوی دی او يا ايښودل کيږي:

**الف** - په کال کې له 5000 افغانيو څخه لږ عوايد له مالياتو څخه معاف دي.

**ب** - دکلني خالصو عوايدو لپاره چې 5000 افغانۍ تر 20000 افغانيو څخه په تجاوز سره د فيصدي عايداتو له مجموع څخه 5 افغانۍ.

**ج** - د اضافه عوايدو لپاره 70000 تر 100000 مازاد نسبت له 100000 څخه فيصد 20 افغانۍ.

**هـ** - د اضافه عوايدو لپاره 70000 تر 100000 مازاد نسبت له 100000 څخه فيصد 10 افغانۍ.

**ی** - داضافه عوايدو لپاره 100000 تر 50000 مازاد نسبت له 100000 فيصد 20 افغانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز - هغــه عــواید چې 50000 په کال کــې تجاوز وکـړي هم د مازاد په مقدار 500000 فیصد 25 افغانۍ.

او همدا راز په کال 1325 کې د حکومت پینځه کلنه طرحه او د تطبیق وړ وګرځیده او د مالیاتو په نظر نوي قوانین منځ ته راغلل د مالیې له صنعتي مؤسسو څخه د 1322 کال د اصول نامې مطابق په هغه اوچت ډول اخستل کیږي د اصول نامې په لومړۍ ماده کې د هغو د هر ډول عوایدو له سر جمع څخه لس فیصده اخستل کیږي. او پینځه فیصده له نورو انتقالي مؤسسو څخه، لس فیصده ثابته مالیه اخستل کیږي. هغه مؤسسې چې د هغوی خالص عواید له 5000 افغانیو څخه تجاوز وکړي، د هغو له توزیع څخه مخکې د مالیې له ورکړې څخه وروسته له شپږو څخه تر 10% پورې لوړه مالیه په مترقي مالیه باندې مکلف پیژندل کیږي، چې د مالیې د ورکړې لامل ګرځي:

دمالیې له ورکړې څخه مطلب دادی، چې مالیه د څه لپاره او په کوم سبب ورکول کیږي ؟ نوې تیورۍ دمالیې د ورکړې سبب یوازې او یوازې دولت ته دیوه فرد مطلق والی بولي.

یا په بل عبارت هر شخص مطلق په یوه دولت پورې دی، نو باید مالیه ورکړي.

په تیروخت کې دمالیې ورکړې عوامل ګڼ ؤ نظر په وخت سره یې تحول موندلی، چې دغه دی اوس نوموړي تحولات په لنډه توګه سره خلاصه کوو. د مالیې د ورکړې مجبوریتونه له یوې ټولنې څخه منشاء اخلي.

د نوې مالیې بنسټ باید په هغه مفکوره کې ولټو، چې په یوه ټولنه کې برخه اخلي او یا دهغې ټولنې یو غړی تشکیلوي، نو باید په یا دو شویو جامعو، لګښتونو کې برخه واخلي او یا هم د افرادو ټولنیز شاند مجبوره وي، ترڅو د هغې حصې لګښت ولري.

او همدا مفکوره ده چې د ټولنې د اشخاصو لګښتونه توزیع کیږي او هم دا ویلای شو، چې افراد دمالیې په ورکړې سره مجبور دي او یا هغه اشخاص چې عواید یې د ژوند له حد اقل څخه ډیر نه وي. نور نو د دولت له خدمتونو څخه د استفادې په تناسب د مالیې په ورکړه مجبور نه دی، بلکې دهغوی د مالیې ورکړه به د قدرت او توان په اساس وي. یعنې د هر فرد مالي قدرت.

**په ملي اقتصاد باندې د مالیې اغیزې**

په هیواد کې دمالیې اچونې سیستم د استقرار حالت نلري د وخت او زمان له غوښتنو او مقتضاتو سره سم د بدلون په حالت کې دی. کله یې متعدل حالت اختیار کړی او له خالصې ګټې څخه په مترقي توګه سنجش کیږي چې دغه سیستم دتصدي دندې محدودوې او تصدي له ماتې او رکود سره مخ کوي. په دې صورت کې دپانګې کمښت منځ ته راځي. په لومړۍ مرحله کې د یوې تصدي لپاره د موادو د تهیې لپاره اغیز لري. کله چې یوه تصدي ونښې کړای، چې ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مواد تهیه کړي او همدا راز ونشي کړای ترڅو خپلو تولیداتو ته وسعت ورکړي. کله چې د یوې تصدي تولیدات محدود وي، نو د تصدي په مزد باندې تاثیر اچوي. مالیه اخیستنه دتصدي تمام شوی قیمت لوړ بیایي همدغه خبره ده چې په مقابل کې یې د بهرنیو تصدیو رقابت واقع کیږي او د تصدي له منځه تللو لامل ګرځي. د حکومت دلګښتونو عواید په ټول ملي اقتصاد باندې تاثیر پریباسي. نني مالیات نه یوازې داچې د دولتي مفاد د زیاتوالي وسیله ده، بلکې د ټولنیز عدالت د تآمین یوه پیاوړې وسیله ده او په انفرادي سکتور باندې اغیزې لري.

او دنني حکومت مالیات یې د تصنیف په حیث دغني او فقیرې طبقې په منځ کې خلا، همدا راز د اقتصادي اعمالو هڅونه او دغیر اقتصادي اعمالو مغلوبول د وارداتو غوښتنې په هیواد کې ځاري.

**د پنځم څپرکي د مطالبو لنډیز**

مالیات په هر هیواد کې د دولت داقتصاد لپاره ستر رول لري. په همدې ډول په دې څپرکي کې دا زده کوو، چې مالیه نه یوازې له زارعینو څخه د تاریخ په اوږدو کې راټوله شوې، بلکې صنعت هم زمونږ د دولت د مالیې یوه ستره برخه جوړوي، نو له همدې امله محصلین په پنځم څپرکي کې دمالیې مضمون زده کوي، چې نن ورځ صنعتي هیوادونه کوم کوم دي او دهغوی اقتصادي قدرتونه په کومو معیارونو دي، ځکه چې صنعت په سترو اقتصادي هیوادونو کې عمده رول لري.

پورته مسایلو ته په پام سره له یاد شوي څپرکي څخه موخه په افغانستان کې د صنعت وده، د هغو په خورو ورو ابعادو کې په تیرو کلونو او هم نن صبا د مطالعې وړګرځیدلې. دصنعت بحث چې په افغانستان کې له تیرو دوو څخه تر کومو حدودو وده موندلې او له آثارو او علایمو څخه داسې صنعتي فابریکې پیدا دي، چې مخکې په دې فابریکوکې د اوس په نسبت ډیر صنعت تر سترګو کیده او په اخیرو پیښوکې یې ځینې په خرابو او ویرانو بدلې شوې دي، چې په دې اواخرو کې یې په یوه نوې طریقې سره دهغوی بیا رغاونه پیل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکي پوښتنې**

۱. تر کومه وخته پورې مالیه د جنس په بڼه دود وه؟
۲. د مالیې د ورکړې دود په پیسو سره څه تحول یا بدلون منځ ته راووړ؟
۳. د پیسو له موجودیت څخه مخکې مستحلکینو کوم ډول مالیه دولت ته ورکوله؟
۴. د مالیې د ډولونو نومونه واخلئ؟
۵. د مالیې په سیستم کې صنعت څه رول لري؟
۶. آیا په افغانستان کې صنعت موجود ؤ او که ؤ نو په څه ډول ؤ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## په افغانستان کې د مالياتو تاريخچې

**ښوليزه موخه:**
د دولت د خدمتونو عمده نکات، د مالياتو تقسيم بندي، د مالياتو د منابعو پر بنسټ او د مالياتو په اخيستلو سره قدرت ترلاسه کول.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې محصلين بايد لاندې موضوعات توضيح کړي:

- د افغانستان په اقتصاد کې د زراعت او صنعت رول.
- په تيرو پيړيو کې مالياتي سيستم.
- په افغانستان کې د مالياتو تاريخچې.
- مواصلاتي لارې او د هغو رول په نړۍ او افغانستان کې او د مالياتو د انکشاف سير.

**په افغانستان کې د مالياتو تاريخچې**

له نن څخه 257 کاله مخکې په افغانستان کې ماليه په ابتدايې بڼې سره پيل شوه او په مختلفو تاريخونو کې يې په لاندې ډول انکشاف موندلی.

- په کال 1747 ميلادي کې د ماليې اداره منځ ته راغله ،چې په لومړيو کې د آب هنگي په نامه او وروسته بيا د مستوفي په نامه يا ديده.
- په کال 1616 کې د ماليې وزارت تشکيل د ماليې د وزير د کلمې په اضافه کيدو سره منځ ته راغله.
- په کال 1943 کې پر عايداتو باندې د مالياتو لومړنی قانون له 5 څخه تر 35% پورې تدوين شو.
- په کال 1944 کې مخکنی مترقي جدول د ماليې په 25% فيصده نورم ثابت تعديل شو.
- تر کال 1953 پورې د ماليې اخيستنې صلاحيت صرف د ماليې وزارت درلود، له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه وروسته دمالیې اخیستنې صلاحیت ولایاتوته هم ورکړل شو.

- په کال 1956 کې پر عایداتو باندې مالیات د (5 - 57% مترقي جدول پر بنسټ نافذ شو او د 1965 کال تر پایه پورې یې ادامه پیداکړه.
- په کال 1966 کې مخکنی مترقي جدول د (4 - 40% په نورم تعدیل شو.
- په کال 1969 کې هم د مترقي جدول په نورمونو کې تغیرات راوړل شول.
- د 1972 په اوایلوکې د مالیې مترقي جدول د حقیقي اشخاصو له عوایدو ځخه له (4 - 60% ځخه او انتفاعي مالیات د (2%) په نورم سره وټاکل شول.
- په کال 1994 کې دحقیقي اشخاصو د مالیې یو بل مترقي جدول (4 – 8- 20% نافذ شو ، او حقوقي اشخاصو 20% مالیات پرعایداتو باندې 2% مالیات پ او 205 انتفاعي مالیه اخستل کیده.

**د مالیې تعریف:** مالیه عبارت له هغو پیسو ځخه ده، چې د یوه هیواد د اتباعو په واسطه د دولت د چارو دتمویل په منظور تادیه کیږي.

**مستقیمې مالیې لاندې اجزاوو لري:**

- د انفرادي اشخاصو پر عایداتو باندې مالیې او همدا راز په شرکتونو ، دکرایې برخه ، دبرخې ګټه، میراث، تحایف، موضوعي مالیه د ځمکې مالیه، تعمیرات، د ملکیت د انتقال مالیه او داسې نورو باندې مالیې.
- د صادراتو او وارداتو محصول.
- پر داخلي اجناسو باندې مالیې (دپانګې د دورې د عمده او پرچون مفروشاتو تولید)
- په زیات شوي ارزښت باندې مالیه ( اجناس او خدمات ) او داسې نور مالیاتو لره کیدای شي د هغوی د اجزاوو په بنسټ هم په لاندې توګه تقسیم شي:
- پر شتمنۍ باندې مالیه.
- پر عایداتو باندې مالیه.
- پرلګښت ( اجناسو او خدماتو ) باندې مالیه.

**په شاملو شتمنیو باندې مالیې**

- دځمکې او تعمیراتو کلنۍ مالیه
- د شتمنۍ پر انتقال باندې مالیه

**پر عایداتو باندې مالیې**

په عام ډول سره پرعایداتو باندې مالیات په دوو کټګوریو تقسیم شویدي:

د حقیقي او انفرادي اشخاصو پرعایداتو باندې مالیې لکه مفاد ، معاش او دلاس حق الزحمې ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخې مفاد د کرایې او نورو. ... برخه

د حقوقي او حکمي شاخص د محدودالمسؤلیت ، سهامي ، تضامني ، مختلط تضامني شرکتونو په شمول او د داسې نورو ټولو انتفاعي مؤسسو پر عوایدو باندې مالیات.

- پر مصرف ( اجناسو او خدماتو ) باندې مالیې
- پر اجناسو او خدماتو باندې مالیې عمدتًا لاندې اقلامو لره شاملې دي
- پر تولیداتو باندې مالیې ( د استهلاکي موادو مالیې )
- پر وارداتو او صادراتو ( ګمرکې محصول ) باندې مالیې
- د اجناسو په پیرودنې باندې مالیې
- د اجناسو په پلورنې باندې مالیې

**پر داخلي تولیداتو باندې مالیې لاندې اقلام لري:**

- پر غیر مفیده اجناسو باندې مالیه لکه تنباکو ، الکولی او نور مشروبات
- پر قیمتي او غیر ضروري اجناسو باندې مالیه؛ لکه: تجملي اشیا ، مفیده اجناس لکه پطرول ، عراده جات او داسې نور.

پر وارداتو او صادراتو باندې مالیې: پر وارداتو او صادراتو باندې مالیې لاندې دریو کټګوریو لره شاملې دي

- د عوایدو د تر لاسه کولو په منظور مالیه.
- محافظوي مالیه.
- پر پلورنو باندې مالیه.

پر پلورنو باندې مالیې په څلورو کټګوریو تقسیم شوې دي

- د پانګې په دورې باندې مالیه ( د تولید او توزیع په هره مرحله کې
- یوه مرحله ییزه مالیه ( د تولید او توزیع په یوه مشخصه مرحله کې )
- پر زیات شوي ارزښت باندې مالیه (په هره هغه مرحله کې چې اضافي ارزښت ایجادیږي)
- پر پلورنې باندې مالیې.

په حال حاضر کې پر پیرودنو باندې مالیې په دوو ګروپونو تقسیم شوې دي:

- پر داخلي تجارت باندې مالیې
- پر بین المللي تجارت باندې مالیې

د مالیو تقسیم بندي د هغوی د منبع به بنسټ:

- پر شتمنۍ باندې مالیې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پر عایداتو باندې مالیې.
- پر داخلي تجارت باندې مالیې.
- پر بین المللي تجارت باندې مالیې.

**د شپږم څپرکي د مطالبو لنډیز**

په تیر څپرکي کې مو دا زده کړل، چې ګران افغانستان په تیرو وختونوکې د کومو اقتصادي قوانینو او مالیې درلودونکی ؤ او د مالي اقتصاد کوم ډول تعریفونو شتون درلود.
په دې څپرکي کې د دولت د خدمتونو عمده نکات د مالیاتو تقسیم بندي، د مالیاتو دمنابعو پر بنسټونو مطرح دي. نن ورځ کوم سیستم د مالیاتو د غوره او ښې اخستنې توانایې د مالیې واجد شرایطو اشخاصو ته ورکوي. ضمناً په کومو تاریخي دورو کې مالیې دکومو اصولو پر مبنایي وده کړې وه ، او په هغه وخت کې د اجناسو د مالیاتو ډولونه او د دولت خدماتو کوم اساسات په بر کې درلود او د معاصر مالیاتي سیستم اساسي اصطلاحات د دې څپرکي د تعریفاتو په جمله کې دي.

**د شپږم څپرکي پوښتنې**

۱. د تاریخ په دورو کې مالیې په کومو شکلونو وضع کیدې؟
۲. په تیرو وختونو کې مالیې په څو ډوله وې؟
۳. په تیرو تاریخي دورو کې د دولت د عایداتو نومونه واخلئ؟
۴. آیا د مالیو اصلاحات د مالیې په پروسه کې کوم مثبت رول لري او که نه؟
۵. د مالیې تصنیف بندي او تقسیم بندي د کومو منابعو په بنسټ صورت موندلی او یا مومي؟
۶. د مالیې د مضمون له مطالعې څخه مو کوم مهم موضوعات زده کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عمومي معلومات**

- په افغانستان کې د مالیاتو وده، موجوده جوړښت او د هغه تصنیف.
- په افغانستان کې د مالیاتو تاریخي قدامت له نن څخه تقریباً 250 کاله مخکې.
- په کال 1919 کې دمالیې وزارت ایجاد.
- د مالیاتو لومړنی قانون په کال 1965 کې تدوین شو.
- په مختلفو دورو کې د مالیاتو د قانون تعدیل دحکومتونو سیاستونو او شرایطو ته په کتو سره.
- د کمیشن کارۍ د نوي سیستم ایجاد.
- د خدماتو پرعرضه کولو د مالیاتو پیژندنه ( هوټل ، رستورانت ، مخابرات او هوایې مسافر بري خدمات ).
- د کرایې سهم د مالیې د نوي طرز معرفي کیدل.
- د ګمرکي محصول په نورم کې تغیرات.

**د مالیاتو موجوده شکل**

پر عام ډول سره پرعایداتو باندې مالیات په لاندې دوو ډولونو دي:

- د شرکتونو پرعوایدو باندې مالیه په ( 20% ) نورم سره.
- دحقیقي اشخاصو پرعوایدو باندې مالیه یا کلنی معافیت (150,000)
- 125000
- له 12500 تر 100,000   10%
- میاشتنی له 100,000 څخه لوړ

**موضوعي مالیه**

- موضوعي مالیې پر مزد او معاش باندې د ( 10 او 20% ) په نورم سره.
- موضوعي مالیه د کرایې په سهم باندې 20% په نورم سره.
- موضوعي مالیه د ګټې په سهم باندې د ( 20 او 30% ) په نورم سره.
- په مختلفو نورمونو سره ثابتې مالیې د فعالیتونو په تفکیک سره.
- دفیسونو او کمیشن د ډولونو د انتفاعي معاملاتو مالیه.
- د صکوکو په نامه پر فعالیتونو باندې مختلفې مالیې.
- پر تولیداتو او دشرکتونو د پانګې په دوران باندې انتفاعي مالیې په مختلفو نورمونو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تادیاتو د توانمندۍ بنسټونه** ( دمالیې وضع د ورکړې د قدرت پراساس)

- د مفاد اساسات
- د مالیاتو ارتجاعي خصوصیت
- څو مرحله ییزه مالیې
- دوه ګونې مالیه ( اقتصادي ، حقوقي )
- د مالیو تساوي ( افقي ، عمودي )
- د مالیې اثر
- د مالیې وقوع
- د مالیې بې طرفي
- مترقي مالیه
- د مالیاتو نسبتي نورم ( فرضي )
- نزولي مالیه ( غیر مترقي )
- مالیاتي نورمونه ( واحد ، دوه ګونې، مخصوص او د اجناسو په تخمیني قیمت باندې مالیه اوثابت نورم )

**معاصر مالیاتي اصطلاحات**

مالیاتي اصطلاحات دوې عمده څنګې په برکې نیسي.

۱. د مالیاتي سیستم اصلاح
۲. د مالیاتي اداري اصلاح ( د مالیو راټولونه )

**د مالیاتي سیستم اصلاح**

- د مالیاتو د بنیاد وسعت
- د مالیاتو دبنیاد د وسعت لپاره دا احساسیږي، تر څو لاندې امتیازات له منځه یوړل شي.
- خاص امتیازات
- معافیتونه
- د مالیاتو تعطیلات
- د ګمرکي محصول له منځه وړل او کمول.
- د ګمرکي محصول په ټام شوي قیمت باندې انتقال کوي
- د قاچاق زیاتولو لامل ګرځي
- په اتحادیه او سازمانونو کې عضویت هم دا ایجابوي، چې ګمرکي محصول د کم کړای شي.
- که پورتنۍ موضوع ګانې په ریفورم کې مدنظر ونیولې شي په نتیجه کې:
- د سیستم په جوړښت کې شفافیت او سهولت منځ ته راځي
- د خودي مالیې د ورکړې بنه
- په پټولوکې تقلیل او د مالیې له ورکړې ځخه تیښته

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د انفرادي شرکتونو د مالياتي نورم کښته راوستل**

- ý دغه تمایل د اتیا له لسمې څخه را وروسته منځ ته راغی
- ý لوړ نورم په مجموع کې د هیواد  د اقتصاد په ضرر دی
- ý د مالیې لوړ نرخونه د پانګې اچونې په اړه د مایوسۍ لامل ګرځي.
- ý هم د انفرادي مالیاتو سطح والی
- ý د څو ګونو مالیاتي نورمونو له منځه وړل

**دمالیاتو د سیستم تطبیق پر ارزښت زیاتوالی موندلی**

- ý دغه مالیه په لومړي ځل په کال 1954 په فرانسه کې منځ ته راغله
- ý مالیه بې طرفانه ده
- ý شفافه ده
- ý بنسټ یې پراخه دی
- ý فعلاً په 130 هیوادونو کې مروجه ده

**په مالیاتي اداره کې اصلاحات**

- ý د مالیاتي سیستم د اصلاحاتو لپاره په اداره کې اصلاح ضرور ده:

**په اداره کې اصلاح لاندې ساحې په بر کې نیسي.**

۱. د مالیاتو د اداري جوړښت
۲. د مختلفو اداراتو یووالی او د مالیاتو راټولونه د یوه مستقل ارګان له لارې.
۳. اقتصادیوالی
۴. د یوې بود یجې په واسطه دځو دفترونو د فعالیت امکانات.
۵. تر یوه چتر او شرایطو لاندې یو غوره کاري چاپیریال.
۶. د مالیاتو راټولونه په لږ لګښت سره ، د اطاعت منني د لګښتونو په مرسته کې کم والی.
۷. د کار له دوه ګونیوالي څخه مخنیوی او په کاري فعالیتونو کې غوره هم غږي (تر یوه چتر لاندې)
۸. د مالیاتو لپاره د تفتیش د یوې مستقلې څانګې منځ ته راوړل.

**د سترو مالیه ورکوونکو د اداري ایجاد:**

- ý غوره خدمات او د سترو مالیه ورکوونکو لپاره آسانۍ او سهولت
- ý له اداري بروکراسۍ څخه مخنیوی
- ý له سترو مالیه ورکوونکو څخه د عوایدو غوره کنټرول
- ý د سترو مالیه ورکوونکو د عوایدو له کتمان څخه مخنیوی
- ý مالیه ورکوونکوته د خدماتو او تعلیماتو د وړاندي کولو له لارې د داوطلبانه مالیاتو په ورکړه کې زیاتوالی.

**د پرسونل کاري سیستم:**

- ý له لیاقت سره سم د کار سپارل
- ý په اړینو څانګو کې مامورینوته ښوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ( محاسبه ، کنترول ، تحقیق
- ارزیابي ( دپرسونل اداري سیستم د کار په اړه )
- داخلي نظارت ( د پالیسۍ د غوره قانون د تطبیق او د مؤظف پرسونل په واسطه د طرز العمل په خاطر.
- د مامورینو کاري اخلاق ( دمؤثر کار په خاطر ، د قوانینو د تطبیق لپاره کاري اخلاص او وظیفوي تعهد.

**د مالیې ورکوونکي د شکایت اوریدل:**

- د مامورینو امتیازات
- مالیاتي کړنلاره
- اخیستونکي مالیات

**د مالیې ورکوونکو د منازعې مؤثر حل**

- د عالیرتبه مامورینو په واسطه د شکایت اوریدل
- د شکایت د ارجاع حق هر هغه مقام ته چې رسیدنه ورته کولای شي
- د مالیاتو کمپیوترایزیشن
- ور ځنی کار تر سره کړي
- دمالي ادارو او مالیه ورکوونکو اداراتو تر منځ باید فزیکي اړیکې کمې شي
- په کړنلارو کې اساني
- د مالیې ورکوونکي هڅونه
- مالیې ورکوونکي ته غوره خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچيني او اخځليکونه:**


۱. قسمت از موضوعات مهم لکچر نوت شخصی

۲. مالیه گزاری بالای اراضی افغانستان از وزارت مالیه سال (۱۳۸۶)

۳. مالیه گیری از صنایع افغانستان (اسناد وزارت مالیه) سال (۱۳۸۷)

۴. مالیه صنعتی زیر نظر دکتور مسلم نوشته (غلام رسول طوطاخیل) از پوهنتون کابل

۵. لکچر از سایت های مطمین انترنت

۶. اصطیلاحات حسابداری

۷. اسناد از سمینارهای وزارت مالیه که دلالت به سالهای (۱۳۸۱ الی ۱۳۸۸) میکند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونيز نصاب د پراختيا د رياست پيغام

د پوهنې وزارت د تخنيکي او مسلکي زده کړو معينيت د ښوونيز نصاب د انکشاف رياست د ټولنې د عيني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلينو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې يې تخنيکي او مسلکي رشتې درلودې او لري يې، په لومړي سر کې يې تصميم ونيو، چې په ښوونيزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بيا کتنه وکړي او ورپسې بيا د شاګردانو او محصلينو د درسي کتابونو د تاليف لپاره مبادرت او کوښښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د ښوونکو په ميړانې او همت سره د ادارې او حسابدارۍ درسي کتابونه تاليف شول تر څو په وړيا ډول د شاګردانو او محصلينو په واک او اختيار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شاګردانو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د چارو له متخصصينو او همدا شان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صميمانه هيله کيږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښوونکو او د ادارې او حسابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تاليف او تدوين شوي دي. د مسلکي، تخنيکي او علمي مطالبو او مفاهيمو د څرنګوالې په هکله خصوصاً د هغوی املايي او انشايي اشتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شان له ګرانو شاګردانو او محصلينو څخه هيله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او استفادې پر مهال د هيواد اقتصادي ستونزې، فقر او وروسته پاتې والی په نظر کې ونيسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زيار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلينو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنيکي زده کړو معينيت

د تعليمي نصاب د پراختيا رياست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مديريت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**